د افغانستان اسلامي امارت
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت
د مالي او اداري چارو عمومي ریاست
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# شهید مجله



# د شهیدانو او معلولینو چارو محترم وزیر پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

دا یو روښانه او مسلم حقیقت دی چې د شهیدانو کورنیو او مجاهدینو معلولینو د اعلاء کلمة الله لپاره، د دیني ارزښتونو د ساتنې؛ د هېواد د خپلواکۍ، اسلامي نظام د حاکمیت او د سراسري امنیت د ټینګښت په لاره کې سترې سربښندنې او بې ساري قربانۍ ورکړې دي.

د افغانستان مجاهد او با وقاره ملت نن د شهیدانو او مجاهدینو معلولینو د ایثار، استقامت او ویاړلو کارنامو څخه په بشپړ ویاړ یادونه کوي او د هغوی د قربانیو قدرداني کوي. الحمدلله د اسلامي نظام تر چتر لاندې د شهیدانو کورنیو او معلولینو لپاره خدمت کول زموږ لپاره مهم مسئولیت او ویاړ دی.

الحاج ملا عبدالمجید آخند
د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر

دربمه ګڼه، د ۱۴۰۴ لمریز کال

# لړلیک


سرلیکنه ............ ۱
د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر ............ ۲
د مقالو برخه ............ ۳
د خبرونو برخه ............ ۱۱
گزارش کارکردها و دستاورد های ریاست ها ............ ۲۵
د مرکزي برخه ............ ۴۳



## د امتیاز خاوند : د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت

*مسئول مدیر : مفتي فیصل "خاموش"

* د تصحیح مدیر : حافظ محمد یعقوب "روښان"

*خبریال : حشمت الله "محمدي"

*ډیزاینر : نعمت الله "نظري"

## کتنپلاوی:

مولوي کلیم الله *افغان*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس

مولوي محمد موسی *صدیقي*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو چارو رئیس

قاري شاه محمد *دوست*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر رئیس

یادونه: " له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د درنو لیکوالانو په غاړه دی"



mmd.gov.af@gmail.com

+93 705152652

د هوايي ډگر عمومي سړک، خیاط کلا، کابل، افغانستان

# سرلیکنه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على سيد المرسلين و على آله و صحبه اجمعين و بعد:
د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د ټولنې د هغو درنو قشرونو د ملاتړ، پالنې او د هغوی د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو درونده مسئوليت پر غاړه لري، چې د خپل ژوند هوساينې په قربانولو سره يې په هېواد کې اسلامي نظام رامنځته کړ او الحمدلله نن ټول د اسلامي نظام تر سيورې لاندې هوسا، آرامه او باعزته ژوند کوي.
د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د عدالت او شفافيت پر بنسټ تل هڅه کړې ده چې د شهيدانو کورنيو او معلولينو ته اغېزمن او دوامداره خدمتونه وړاندې کړي.
د ۱۴۰۴ مالي کال په لړ کې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د منظم او هدفمند مديريت له لارې وتوانېد چې ځانګړې شوې (۱۲) ميلیارده افغانۍ بودجه په شفاف او عادلانه ډول واقعي مستحقينو ته د مياشتنيو نغدي مساعدتونو په توګه ورسوي. د دې ترڅنګ يتيمانو، کونډو او معلولينو ته د ميلياردونو افغانيو مياشتنيو نغدي مرستو ورکړه د دې وزارت عملي ژمنتيا څرګندوي، چې د يتيمانو، کونډو او معلولينو په ژوند کې د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو په برخه کې کوټلې ګامونه پورته کړي دي.
د دې وزارت له مهمو پروګرامونو څخه د يتيمانو، کونډو او معلولينو د مهمو او اړينو اسنادو د ثبت لپاره د نوي برېښنايي سيستم جوړول دي، چې په ۳۴ ولايتونو کې ياد سيستم فعال شوی د فساد مخنيوي او د شفافيت د تأمين په برخه کې لوی ګام بلل کيږي، چې له يوې خوا مرستې واقعي مستحقينو ته رسېږي، او له بلې خوا يې د خدمتونو کيفيت په لوړولو کې هم مهم رول لوبولی دی.
د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت يوازې په نغدي مرستو بسنه نده کړې، بلکې د راتلونکې ليدلوري له مخې يې د مستحقينو پر اقتصادي او ټولنيزې پياوړتيا تمرکز کړی دی. هغوی ته د فني او حرفوي پروګرامونو په لاره اچولو سره يې هڅه کړې چې ورته د ځانبسياينې فرصتونه برابر کړي.
له بلې خوا، وزارت په ځانګړې توګه د ژمي د سختو شرايطو په درک کولو سره، هم د يتيمانو، کونډو او معلولينو لپاره د مرستو د وېش پروګرامونه پلي کړي دي. د خوراکي توکو، ژمنۍ البسه، سون توکو، ويلچيرونو او نورو اړينو وسايلو وېش هغه هڅې دي چې د ملي او نړيوالو خيريه بنسټونو په همکارۍ ترسره کېږي.
د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت مشرتابه د هېواد بېلابېلو ولايتونو ته د منظم سفرونو له لارې له نږدې د مستحقينو ستونزې، اړتياوې او غوښتنې اورېدلې او د خدمتونو کيفيت يې ارزولی، د خلکو غږ يې له نږدې اورېدلی او د خدمتونو وړاندې کولو په بهير کې يې شته ستونزو ته پر وخت رسيدګي کړې ده.
په ټول هېواد کې د يتيمانو، کونډو او معلولينو د ثبت شويو دقيقو شمېرو شتون د دې وزارت د مسئوليتونو پراخوالی او  کاري حجم څرګندوي. د سلګونو زرو يتيمانو، کونډو او معلولينو پالنه، قوي مديريت، اغېزمنې همغږۍ او منظم پلان جوړونې ته اړتيا لري، چې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت په وروستيو څلورو کلونو کې د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره جدي ګامونه پورته کړي دي.
په پوره ډاډ سره ويلی شو چې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت له لوري د دغو هلو ځلو دوام کولای شي د شهيدانو کورنيو او معلولينو لپاره د روښانه راتلونکې زمينه برابره کړي.

## په نوي برېښنايي سيستم کې د ثبت شويو يتيمانو، کونډو او معلولينو مجموعي شمېر

**مجموعي ثبت شوي يتيمان، کونډې او معلولين**

**۶۵۰۸۰۶**

| | |
|---|---|
| مجموعي ثبت شوي يتيمان | ۳۸۳۶۳۳ |
| مجموعي ثبت شوي معلولين | ۱۷۰۴۸۷ |
| مجموعي ثبت شوي کونډې | ۹۶۶۸۶ |



# د مقالو برخه

# د یتیمانو پر وړاندې د سرپرست شرعي مسئولیتونه

لیکنه: مفتي فیصل خاموش

اسلام د ژوند یو بشپړ نظام دی، پکې د هر چا حقوق په پام کې نیول شوي دي. الله جل جلاله هېڅوک داسې نه دی پرېښی چې چا دې ورسره مرسته او کومک نه وي کړی، بلکې د هر چا لپاره یې داسې اسباب او لارې هم برابرې کړي چې په اسانه د الله جل جلاله پر ځمکه ژوند تېر کړي. له دغې جملې څخه یې یوه ډله یتیم او بې سرپرسته ماشومان دي دوی هم ټولنیز حقوق لري؛ بشپړ کفالت او د حقوقو ساتنه یې لازمي ده، له دوی مخ اړول یې د حقوقو تر پښو لاندې کول دي.

په ټولنه کې مېشت قومونه، ولسونه او کورنۍ که څه هم د پېژندګلوۍ له پلوه له یو بل څخه بېلې وي، د هغوی استوګنځایونه، معیشت او تمدن جلا جلا وي، خو د ټولنیز حیثیت له مخې ټول یو واحد جوړوي. په غم او خوشحالۍ کې له یو بل سره ګډون کول د هغوی اسلامي فریضه ده. د زماني د پېښو ځپلو خلکو پالنه او د هغوی اړتیاوې پوره کول د دوی اسلامي او ټولنیزه ذمه واري ده، ډېر خلک دا مسئولیت څکه ادا کوي چې دا کار ثواب او ورباندې درووند بار نه وي؛ خو له دې سره سره بیا هم په اوسني عصر کې تر ټولو لویه ستونزه د ټولنې د یتیمو ماشومانو کفالت دی. څکه مونږ او تاسو په یو داسې هیواد کې ژوند کوو چې څو وارې د کفارو تر یرغل لاندې راغلی او د هر یرغل په پایله کې زمونږ په لکونو ماشومان یتیمان او د سر سورۍ یې ورځخه پناه شوی د پلار په نشتون کې دوی بې سرپرسته په کورکلي کې د ژوند ترخې شپې او ورځې سبا کوي د ځینو نورو یتیم ماشومانو پلار بیا په خپل مرګ وفات او د ژوند هره شیبه ورباندې ډېره سخته تیریږي د پلار په مرګ سره یتیم ماشومان د ذهني فشار سره مخ وي څکه چې هغوی د خپل پلار ملاتړ له لاسه ورکړی او دا د هغوی په رواني وضعیت کې ژور تاثیر کوي.

یتیمان هم اسلامي او ټولنیز حقوق لري؛ د هغوی په پوره ډول کفالت او د ژوند اسانتیاوې ورته برابرول د ټولو مسلمانانو مسئولیت او باید هر مسلمان ددوی له حقوقو خبر وي.

په ټولنه کې یتیم دري( ۳) حالتونه لري

لومړی : چې یتیم خپل مال ولري

دوهم: چې یتیم خپل مال ونه لري خو نږدې خپل خپلوان یې مالداره وي.

دریم: چې یتیم خپل مال ونه لري او نږدې خپل خپلوان یې هم غریبان وي

په لومړي حالت کې: یعنې که هغوی مال ولري، نو د هغوی روزنه او کفالت به د هماغه مال څخه کېږي، په بیت المال او ولي یې نفقه لازمه نه ده ، ځکه دوی خپله د مال څښتنان دي او کله چې څوک خپل مال ولري نفقه یې پر بل چا نه واجبیږي.
علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:
فَإِذَا كَانَ لِلْوَلَدِ مَالٌ فَنَفَقَتُهُ فِي مَالِهِ؛ لِأَنَّهُ مُوسِرٌ غَيْرُ مُحْتَاجٍ وَاسْتِحْقَاقُ النَّفَقَةِ عَلَى الْغَنِيِّ لِلْمُعْسِرِ بِاعْتِبَارِ الْحَاجَةِ إذْ لَيْسَ أَحَدُ الْمُوسِرِينَ بِإِيجَابِ نَفَقَتِهِ عَلَى صَاحِبِهِ بِأَوْلَى مِنْ الْآخَرِ.( المبسوط للسرخسي ٥ / ٢٢٣)
ژباړه: نو که د ماشوم خپل مال وي، د هغه نفقه به د هماغه له ماله ورکول کېږي؛ ځکه هغه شتمن دی او محتاج نه بلل کېږي. او د نفقې استحقاق دا دی چې پر شتمن کس د بېوزله کس لپاره د اړتیا له مخې واجبېږي؛ ځکه له شتمنو کسانو څخه هېڅ یو تر بل شتمن زیات د دې وړ نه دی چې خپله نفقه یې پر بل شتمن لازمه شي.
علامه ابن نجیم رحمه الله فرمایي:
لِأَنَّ الصَّغِيرَ إذَا كَانَ لَهُ مَالٌ فَنَفَقَتُهُ فِي مَالِهِ.( البحر الرائق ۴/ ۲۱۸):
ژباړه: ځکه چې که نابالغ ماشوم خپل مال ولري، نو د هغه نفقه به د هماغه له ماله ورکول کېږي
په دغه صورت کې د یتیم ولی او سرپرست ته په کار دي چې په پوره امانتدارۍ سره د یتیمانو مال پر هغه ځای کې چې یتیمان ورته اړتیا لري مصرف کړي له خوړلو څخه یې ځان وژغوري او د روزنې تعلیم او تربیې یې باید ځانګړې پاملرنه وشي. قرآن کریم کې الله جل جلاله ټینګار کړی چې د یتیمانو د مال له خوړلو څخه ځانونه وژغوری.
إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ( النساء ١٠)
ژباړه: کوم خلک چې په ظلم سره د یتیمانو مالونه خوري په حقیقت کې هغوی خپلې ګېډې له اوره ډکوي او هغوی به خامخا د دوزخ تاوجن اور ته ورننوځي.
د پورتني ایت کریمه لاندې ګڼ شمیر مفسرینو د سدي رحمه الله دغه قول نقل کړی
وَقَالَ السُّدِّيُّ: يُبْعَثُ آكِلُ مَالِ الْيَتِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَهَبُ النَّارِ يَخْرُجُ مِنْ فِيهِ وَمِنْ مَسَامِعِهِ وَأَنْفِهِ وَعَيْنَيْهِ، يَعْرِفُهُ مَنْ رَآهُ بِأَكْلِ مَالِ الْيَتِيمِ.( ابن کثیر،الدرالمنثور،الطبری، الخازن)
ژباړه: سدي رحمه الله فرمايي: په ظلم د یتیم مال خوړونکی به د قیامت په ورځ داسې مهال حشر کېږي چې د اور لمبې به یې له خولې، غوږونو، پوزې، او له سترګو څخه راوځي،هر څوک یې چې وګوري پیژني به یې چې دا دیتیم د مال خوړونکی دی.
دوهم حالت دا دی: چې یتیم خپل مال ونه لري خو نږدې خپل، خپلوان یې مالداره وي د نږدې خپلوانو اقتصادي وضعیت یې ښه وي، په دغه صورت کې یې نفقه پر همدوی واجبه ده لکه نیکه ، ورور، تره او داسې نور، د یتیمانو نفقه، روزنه او لګښت د همدغو خپلوانو مسؤلیت دی. په خپلوانو کې یې هم لومړی

مسئولیت هغه چاته راجع کیږي چې هغه د یتیم ډېر نږدې خپل وي ، که چېرته یې دا ډول  نږدې خپل خپلوان یتیم ته دنفقې ورکولو انکار وکړي نو حکومت باید د زور او قوت له لارې دوی دې ته مجبور کړي چې د یتیمانو نفقه ادا او ددوی ښه پالنه وکړي ځکه که چیرته یتیم مړ کیږي همدغه نږدې خپلوان یې د میراث حقدار وي او میراث به یې پر همدوی تقسیمیږي.

وَالنَّفَقَة لكل ذِي رحم محرم إِذا كَانَ صغيرا فَقِيرا أَو كَانَت امْرَأَة بَالِغَة فقيرة أَو كَانَ ذكرا بَالغا فَقِيرا زَمنا أَو أعمى وَيجب ذَلِك على مِقْدَار الْمِيرَاث وَيجْبر عَلَيْهِ ( الهداية:۱/۹۰)  (  الجوهرة النيرة:۲/۹۳)

ژباړه: نفقه پر هر هغه خپلوان محرم لازمه ده چې د خپلوي اړیکه یې ورسره وي؛ که هغه واړه او بېوزله وي، یا بالغه ښځه وي خو فقیره وي، یا بالغ وي خو بېوزله او معذور (فلج) وي، یا ړوند وي.

او دا نفقه د میراث د اندازې سره سم واجبه ده، او پرې (وارثان) مجبور هم ګرځول کېږي.

دریم حالت دا دی:

چې یتیم خپل مال ونه لري او نږدې خپل خپلوان یې هم غریبان ، اقتصادي وضعیت یې خراب او له مشکلاتو سره مخ وي په داسې حالت کې د یتیمانو نفقه  پر دوی واجبه نه ده ځکه دوی د خپل فامیل نفقې ته حیران وي نو د نورو بچیانو او ماشومانو ته به نفقه څنګه برابره کړي، په داسې صورت کې یې د نفقې ټول مسئولیت حکومت ته راجع کیږي او حکومت باید ورته د نفقې ترتیب جوړ کړي.

علامة برهان الدين ابن مازة البخاري الحنفي رحمه الله فرمایي :

هذه النفقة لا تجب إلا على الموسر ولا تجب على الفقير لا قليل ولا كثير؛ لأن هذه النفقة تجب بطريق الصلة، والصلات تجب على الأغنياء، ودون الفقراء.

ژباړه: دا نفقه یوازې پر مالدار کس لازمه ده، او پر فقیر هېڅ ډول نه لازمیږي، نه لږ او نه ډېره؛ ځکه دا نفقه د خپلوۍ د پالنې (صیله رحمی له مخې واجبېږي، او د تر بېوزلو خپلوانو نفقه( مالي لګښت، خرڅه کول) چې د صله رحم له امله واجبیږي دا یوازې پر شتمنو لازمه ده، نه پر بېوزلو. ( المحیط البرهاني:۳/۵۸۴)

همدا راز علامه کاساني رحمه الله فرمایي:

وَأَمَّا الَّذِي يَرْجِعُ إلَى الْمُنْفِقِ خَاصَّةً فَيَسَارُهُ فِي قَرَابَةِ غَيْرِ الْوِلَادِ مِنْ الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ فَلَا يَجِبُ عَلَى غَيْرِ الْمُوسِرِ فِي هَذِهِ الْقَرَابَةِ نَفَقَةٌ وَإِنْ كَانَ قَادِرًا عَلَى الْكَسْبِ؛ لِأَنَّ وُجُوبَ هَذِهِ النَّفَقَةِ مِنْ طَرِيقِ الصِّلَةِ وَالصِّلَاتُ تَجِبُ عَلَى الْأَغْنِيَاءِ لَا عَلَى الْفُقَرَاءِ(بدائع الصنائع :۴/۳۵)

ژباړه: خو هغه شرط چې په ځانګړي ډول د نفقه ورکوونکي (منفِق) پورې اړه لري، هغه دا دی چې د اولاد پرته د نورو خپلوانو، یعنې د نږدې محرم خپلوانو، نفقه یوازې پر شتمن کس واجبه ده؛ نو پر بېوسه کس په دې ډول قرابت کې نفقه نه لازمیږي، که څه هم د کار او کسب توان ولري؛ ځکه د دې نفقې وجوب د صله رحمی له لارې دی، او  صله رحمي (په نورو خرڅه کول) یوازې پر مالدارانو لازمه ده، نه پر فقیرانو.

دلته دا لازمه ده چې د مالداری هغه حد وپېژنو چې د نږدې خپلوانو د نفقې وجوب ورپورې تړلی دی. امام

ابو یوسف رحمه الله د زکات نصاب معتبر ګڼلی دی، او د امام محمد رحمه الله په اند کې یو کس د خپل ځان او د خپل اهل او عیال د یوې میاشتې نفقه ولري، او له دې وروسته څه زیات مال هم ورسره پاتې شي، نو هغه به د خپلوانو د نفقې ورکولو ته اړ ایستل کېږي.

**ثم لا بد من معرفة حدّ اليسار الذي تعلق به وجوب هذه النفقة. ذكر ابن سماعة عن أبي يوسف رحمهما الله: أنه اعتبر نصاب الزكاة، وروى هشام عن محمد رحمهما الله إذا كان له نفقة شهر لنفسه وعياله وفضل على ذلك يجبر على نفقة الأقارب. (المحيط البرهاني:۳/۵۸۴)**

همدا راز د یتیم د مال او جایدادونو د ساتلو موضوع هم مهمه ده ، که چېرته د یتیم مرحوم پلار څوک وصي ټاکلی وي نو دا د هغه دیني مسئولیت دی، چې د یتیم مال وساتي، اداره يې کړي او د هغه ګټې خوندي کړي.

او که چېرته يې پلار وصي نه وي ټاکلی، نو د خاندان مشران او تجربه لرونکي کسان دې په خپل مينځ کې کيني او په مشوره دې د یتیمانو د مال او ګټو خوندي ساتلو لپاره دې د یتیمانو مور او یا تره وټاکل شي، کوم یو چې د یتیمانو په حق کې ګټور غوره او مصلحت په کې وو هغه دې وصي وټاکل شي که بالفرض والتقدیر دوی هم وصي ونه ټاکه بیا به د وخت شرعي قاضی دیتیم لپاره وصي وټاکي ترڅو يې د مال ښه ساتنه او ګټې يې په ښه شان سره خوندي شي.

له شک پرته د پلار نشتوالی د اولاد لپاره یو ستر غم او دردونکې صحنه وي، په داسې وخت کې یتیم ته هم په کار دي چې د نورو خلکو مرستو ته سترګې په لار او منتظر پاتې نشي ، ټول عمر په ژړا او خفګانونو تېر نکړي چې نه علم وکړي نه د کوم کسب د زده کړې هڅه وکړي او نه هم کار وکړي ، یتیم ته په کار ده چې له وخت څخه په استفادې د امتحانونو او ننګونو په میدان کې ماتې ونه مني، بلکې یو څه علم او د کسب زده کړې ته ملا وتړي خپل همت وکړي چې په راتلونکې کې بیا وکولای شي د خپل کور مشکلات. او ستونزې په خپله حل او فصل کړي ځکه د نورو خلکو مرستې همیشه نه، بلکې تر یو وخته پورې وي په ټولنه کې د یتیمانو هغه کورنۍ کامیابې وي چې یتیمانو يې زده کړې کړې وي او د کسب، حرفې خاوندان وي بناء په پای کې له ټولو مسلمانانو په خاصه توګه د یتیمانو له سرپرستانو هیله کوم چې دیتیمانو تعلیم او تربیې ته خاصه پاملرنه وکړي تر څو راتلونکې يې روښانه او له مشکلاتو خلاص وي .

# د معلولیت لرونکو وګړو مقام او حقوق د اسلام له نظره

لیکنه: مفتي عبدالاحد مسعود

اسلام یو بشپړ او جامع دین دی چې د انسان د ژوند هر اړخ ته لارښوونه کوي، د اسلام له نظره ټول انسانان د عزت، کرامت او حقونو له پلوه یو شان دي، که روغ وي او که معلول، معلولیت د انسان د ارزښت کمښت نه دی، بلکې د الله تعالی جل جلاله له لوري یو امتحان دی چې هم د هغه کس لپاره دی او هم د ټولنې لپاره. په اسلامي ښوونو کې د معلولینو د درناوي، ملاتړ او حقونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د انسان کرامت په قرآن کریم کې:

الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ ( سورة الإسراء: ٧٠ )

ژباړه: او یقیناً موږ د آدم اولاد ته کرامت ورکړی دی.

دا آیت ښیي چې د انسان اصل کرامت د هغه په انسانیت کې دی، نه په ظاهري څواک، صحت یا شکل کې، نو معلول کسان هم د همدې الهي کرامت مستحق دي.

بل ځای الله جل جلاله فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (سورة الحجرات: ١٣)

ژباړه: اې خلکو! موږ تاسې له یو نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړي یاست... بېشکه د الله په نزد تر ټولو عزتمند هغه دی چې ډېر متقي وي.

دلته د برترۍ معیار تقوا ښوول شوې، نه جسماني بشپړتیا.

د نابینا صحابي په اړه د سورة عبس نزول

الله جل جلاله فرمايي:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ * أَن جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ﴾ (سورة عبس: ۱–۲)

دا آیاتونه د عبدالله بن اُم مکتوم رضی الله عنه په اړه نازل شوي وو، چې نابینا صحابي وو، کله چې هغه د رسول الله ﷺ حضور ته راغی، نو الله تعالی خپل محبوب پیغمبر ته هم تنبیه وکړه چې د یو نابینا مؤمن غوښتنې ته باید پوره پاملرنه وشي، دا د اسلام هغه لوړ درس دی چې د معلول کس عزت د ټولنې د مشرانو له مجلسه هم لوړ ګڼي.

له معلولینو څخه شرعي مسئولیت لرې کول:

الله تعالی فرمايي:

﴿لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ﴾ (سورة الفتح: ۱۷)

ژباړه: پر ړوند، پر لنګ او پر ناروغ هېڅ ګناه نشته.

دا آیت ښيي چې اسلام د معلولینو حالت ته پوره پاملرنه کوي او هغه د مکلفیتونو په برخه کې اسانتیا ورکوي. دا د اسلامي شریعت د رحمت ښکاره بېلګه ده.

د رسول الله ﷺ چلند له معلولینو سره:

رسول الله ﷺ نه یوازې په خبرو بلکې په عمل کې هم د معلولینو درناوی کاوه، عبدالله بن اُم مکتوم رضی الله عنه چې نابینا و، رسول الله ﷺ څو ځله د مدینې د سرپرست په توګه ټاکلی و کله به چې خپله سفر ته وتلو. همدارنګه هغه د مسجد نبوي مؤذن هم وو.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَا إِلَى أَمْوَالِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ ( رواه مسلم)

ژباړه: الله جل جلاله ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري.

دا حدیث د دې ښکاره دلیل دی چې ظاهري نیمګړتیا د انسان د ارزښت معیار نه دی.

د معلولیت په صورت کې د صبرکولو اجر

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ (رواه البخاري)

ژباړه: کله چې زه خپل بنده د هغه د دواړو خوږو شیانو ) سترګو ( په اخیستو وازمایم او هغه صبر وکړي، نو زه به ورته د جنت بدله ورکړم.
دا حدیث د نابینا انسان لپاره د لوی اجر زیری ورکوي، او ښيي چې معلولیت د الله جل جلاله په نزد د لوړ مقام سبب کېدای شي.
د صحابه کرامو او علماوو اقوال:
حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه به د کمزورو او معلولو کسانو پوښتنه کوله او د بیت المال څخه به یې د هغوی لپاره ځانګړې مرستې ټاکلې وې.
امام نووي رحمه الله د پورته حدیث په شرح کې لیکي چې: په دې کې د ناروغۍ او معلولیت پر مهال د صبر کولو لوی فضیلت بیان شوی، او دا چې د بدن نقصان د ایمان نقصان نه دی.
امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله هم وايي چې د دې حدیث څخه څرګندیږي چې الله جل جلاله کله ناکله له بنده څخه یو نعمت اخلي، خو په بدل کې تر هغه ډېر لوی نعمت ورکوي.
د اسلامي ټولنې مسئولیت:
اسلامي ټولنه مکلفه ده چې معلول کسان یوازې پرې نږدي. د هغوی درناوی، تعلیم، درملنه، کارموندنه او ټولنیز ادغام د ټولنې ګډ مسئولیت دی. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:
مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ... كَمَثَلِ الْجَسَدِ الْوَاحِدِ (متفق علیه)
ژباړه: مؤمنان په خپلمنځي مینه او رحم کې د یو بدن په څېر دي...
نو که د ټولنې یو غړی له ستونزې سره مخ وي، نور باید ورسره مرسته وکړي.
پایله:
له قرآني آیتونو، نبوي احادیثو او د صحابه او علماوو له ویناوو څخه دا څرګندیږي چې اسلام معلول کسان د ټولنې فعال او محترم غړي ګڼي، هغوی ته د سپکاوي پر ځای عزت، د بې پروایۍ پر ځای پاملرنه، او د محرومیت پر ځای حق ورکول د اسلامي اخلاقو غوښتنه ده. هر مسلمان باید هڅه وکړي چې د معلولینو لاسنیوی وکړي، د هغوی حقونه خوندي کړي او هغوی ته د عزت ډک ژوند زمینه برابره کړي.
دا نه یوازې انساني فریضه ده بلکې یو ستر عبادت هم دی.



# د خبرونو برخه

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د ترکیې هېواد له سفیر سره وکتل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د ترکیې سفیر محترم جنک اونال سره په خپل کاري دفتر کې وکتل، د دې لیدنې پر مهال د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، د شهیدانو ورثه وو او معلولینو د پالنې مرکز رئیس محترم مولوي احسان الله حقاني، د بهرنیو اړیکو، پلان او تقنین چارو رئیس محترم مولوي ثناء الله فرقاني او د ترکیې هېواد د هلال احمر کمېټې رئیس محترم نعیم الله کریمي هم شتون درلود.

په دې لیدنه کې محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د ترکیې هېواد سفیر ته ښه راغلاست ووېل، د یتیمانو، کونډو، معلولینو او له نورو اړمنو خلکو سره یې د ترکیې هېواد له ترسره شویو مرستو څخه مننه او قدرداني وکړه، د هغوی لپاره یې د لازیاتو مرستو پر چمتو کولو او په بېلابېلو برخو کې د هغوی د ملاتړ پر دوام یې ټینګار وکړ.

په کابل کې د ترکیې هېواد سفیر محترم جنک اونال په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو د اوږد مهاله دوستانه اړیکو یادونه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې دوی به هڅه وکړي چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو ستونزې او اړتیاوې د خپل هېواد له خیریه بنسټونو او ادارو سره شریکې کړي، تر څو د دې اړمن قشر لپاره لا زیاتې مرستې چمتو او ستونزو ته یې رسیدګي وشي.

همداراز په دې لیدنه کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان هم د یتیمانو، کونډو او معلولینو د تثبیت او ثبت په بهیر کې د پوره شفافیت د شتون په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له (۶۵۰) زرو څخه زیاتو ثبت شویو یتیمانو، کونډو مېرمنو او معلولینو ته، پرته له هر ډول تبعیض څخه، په مساوي ډول میاشتنۍ نغدي مساعدتونه ورکوي، چې دا مساعدتونه که څه هم د دوی د ژوند لومړنیو اړتیاوو د رفع کولو لپاره مرسته کوي، خو بسنه نه کوي او په کار ده چې نړیوال بنسټونه او خیریه مؤسسات هم له دې وزارت سره په همغږۍ د دې اړمن قشر لاسنیوی وکړي.

محترم مولوي کلیم الله افغان ټینګار وکړ چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو ملاتړ او د هغوی لپاره د مرستو برابرول د ټولو دیني او انساني وجیبه ده او باید د دې اړمن او زیانمن شوي قشر لپاره لازمې مرستې چمتو شي.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مرستیال سره وکتل



د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مرستیال محترم الحاج مولوي محمد زاهد او راغلي پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل، د دې لیدنې پر مهال د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، د بهرنیو اړیکو، پلان او تقنین چارو رئیس محترم مولوي ثناء الله فرقاني او د شهیدانو ورثه وو او معلولینو د پالنې مرکز رئیس محترم مولوي احسان الله حقاني هم حضور درلود.

په پیل کې محترم وزیر صاحب د شهیدانو ورثه وو، معلولینو او د معلولیت لرونکو وګړو د اولادونو لپاره د حرفوي او مسلکي زده کړو د برابرولو پر ارزښت او اړتیا خبرې وکړې او د حرفوي زده کړې یې د اقتصادي ځان بسیاینې لپاره یو مهم ګام وباله.

ورپسې د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی هغه ځانګړی حکم له محترم وزیر صاحب سره شریک کړ، چې پکې د معلولینو لپاره د فني او حرفوي زده کړو د زمینې برابرولو واضح هدایت شوی وو.

د هر اړخیزو بحثونو او نظریاتو له تبادلې وروسته، د محترم وزیر صاحب له لوري هدایت وشو، چې د دواړو وزارتونو له لوري دې یوه باصلاحیته ګډه کمېټه وټاکل شي، تر څو د معلولینو لپاره د حرفوي زده کړو د میکانیزم، څرنګوالي او د تطبیقي لارو چارو په هکله یو منظم طرزالعمل ترتیب کړي او وروسته یې د عالیقدر مشرتابه حفظه الله تعالی دفتر ته وړاندې کړي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند کنړ ولایت ته سفر وکړ

د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند کنړ ولایت ته یې د سفر پر مهال په یاد ولایت کې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست ته د نوې ځانګړې شوې ودانۍ څخه لیدنه وکړه.

په دې سفر کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د کاکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي او د مالي او حسابي چارو رئیس محترم مولوي محمد امین درویش د محترم وزیر صاحب ملتیا کوله.

د شهیدانو او معلولینو چارو محترم وزیر د کنړ ولایت د مقام د دفتر رئیس محترم مولوي محمد امین حق پرست سره د لیدنې ترځنګ، په یاد ولایت کې د وزارت اړوند ریاست له لوري د ترسره شویو فعالیتونو، اجراآتو او یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کولو له بهیر څخه هم ارزونه ترسره کړه.

د کنړ ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو رئیس محترم مفتي عبیدالله حقاني د محترم وزیر صاحب څخه یې د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته د ځانګړې پاملرنې له امله مننه او قدرداني وکړه او د یتیمانو، کونډو او معلولینو پر وړاندې شته ستونزې او غوښتنې هم د محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سره شریکې کړې.

## سفر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند وزیر امور شهداء و معلولین به ولایت بامیان

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند وزیر امور شهداء و معلولین را که محترم مولوی احسان الله حقانی رئیس مرکز حمایوی ورثهٔ شهداء و معلولین همراهی می کرد، به ولایت بامیان سفر نمود، طی این سفر از کارکردها و فعالیت های ریاست امور شهداء و معلولین از نزدیک دیدن بعمل آورده و روند ارایه خدمات به ایتام، خانم های بیوه و معلولین را بررسی نمودند.

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند وزیر امور شهداء و معلولین با محترم الحاج مولوی عبدالله سرحدی والي ولایت بامیان نیز ملاقات نمودند، طی این دیدار، پیرامون برخی موضوعات مهم دیگر در رابطه به چگونگی ارایه خدمات به ورثهٔ شهداء و معلولین بحث و تبادل نظر صورت گرفته و بر اهمیت رسیدگی به مشکلات فرا راه خانواده های شهداء و افراد دارای معلولیت و ارائه خدمات به موقع به آنان تأکید گردید.

همچنان وزیر امور شهداء و معلولین با شماری از

خانواده‌های شهداء و معلولین از نزدیک ملاقات نموده، ضمن استماع مشکلات و خواست های آنان، به کارمندان بخش‌های مربوطه ریاست امور شهداء و معلولین هدایت داد تا در زمینه رسیدگی و حل مشکلات خانواده های متذکره اقدامات لازم روی دست گیرند.

در همین حال، محترم علی خان احمدی رئیس امور شهداء و معلولین ولایت بامیان گزارش مفصل فعالیت ها و دستاوردهای آن ریاست را به محترم وزیر صاحب ارائه نموده افزود: که در جریان شش ماه سال جاری (۷۰) میلیون افغانی که ۵۹ درصد کل بودجه ریاست امور شهداء و معلولین بامیان را تشکیل می دهد، برای ایتام و معلولین بامیان پرداخت گردیده است،

همچنان محترم وزیر صاحب با برخی از علما و متنفذین ولایت بامیان نیز دیدار نموده و آنها از امارت اسلامی و وزارت امور شهداء و معلولین بابت ایجاد طرح جامع و همه شمول وزارت امور شهداء و معلولین ابراز قدردانی نمودند و کارکردهای ریاست امور شهداء و معلولین بامیان را در حضور وزیر صاحب ستودند و همچنان وعده هر نوع همکاری را در راستای حمایت و شناسایی افراد مستحق را دادند.

قابل ذکر است که هدف سفر محترم وزیر صاحب به ولایت بامیان، بررسی و ارزیابی فعالیت‌ها و کارکردهای ریاست امور شهداء و معلولین آن ولایت بود، تا خدمات لازم به ایتام، خانم‌های بیوه و معلولین به موقع ارائه شود و به مشکلات آنان به طور کامل رسیدگی صورت گیرد.

## محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند وزیر امور شهداء و معلولین با مسؤلین بنیاد خیریۀ سیدالشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه ملاقات نمود

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند وزیر امور شهداء و معلولین با مسؤلین بنیاد خیریه سیدالشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه در دفتر کاری اش ملاقات کرد.

بنیاد خیریه متذکره که به ابتکار محترم مولوی عبدالکریم فاتح معین وزارت فواید عامه، محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین وزارت انرژی و آب، محترم مولوی عبدالمتین مولوی زاده رئیس تدارکات وزارت کار و امور اجتماعی و برخی بزرگان دیگر ایجاد شده است، هدف آن ارایه کمک ها به خانواده های شهداء می باشد.

در جریان این ملاقات محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری، محترم مولوی محمد موسی صدیقی رئیس امور کارکنان، محترم مولوی علاؤالدین سعد رئیس تنظیم خدمات اجتماعی و محترم مفتی فیصل خاموش رئیس اطلاعات و ارتباط عامه وزارت نیز حضور داشتند.

محترم وزیر صاحب به مسئولین بنیاد خیریه متذکره خوش آمدید گفته، از تلاش‌های شبانه روزی مسؤلین وزارت امور شهداء و معلولین در راستای ارائه خدمات مؤثر و به موقع به ورثۀ شهداء و معلولین یادآوری نموده و اقدام

خیرخواهانه بنیاد خیریه سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه را ستود و تأکید نمود که اگر بزرگان امارت اسلامی از این اقدام خیرخواهانه مطلع شوند، بدون شک کمک ها و حمایت‌های لازم را برای ورثه شهداء فراهم خواهند نمود.

مسؤلین بنیاد خیریه متذکره نیز در خصوص فعالیت‌های این بنیاد توضیحات لازم ارائه نموده افزود که این بنیاد پس از فتح امارت اسلامی تا اکنون کمک های را به ارزش مبلغ (۲۰) میلیون افغانی به منظور حمایت از خانواده‌های شهداء و برخی امور خیریه دیگر در ولسوالی سیدآباد ولایت میدان وردک انجام داده اند.

محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده نیز بیان داشت که تلاش‌ها و خدمات وزارت امور شهداء و معلولین در رسیدگی به مشکلات خانواده‌های شهداء و افراد دارای معلولیت قابل قدردانی است و در این زمینه اقدامات ارزشمندی صورت گرفته است.

در این دیدار محترم مولوی کلیم‌الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری صحبت نموده افزود: مسلمان نباید تنها به فکر خویشتن باشد، بلکه باید به مشکلات و نیازهای دیگران نیز توجه داشته باشد.

موصوف از موجودیت شفافیت در پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه به ایتام، خانم های بیوه و معلولین اطمینان داده افزود: وزارت امور شهداء و معلولین بر اساس بودجه تخصیص یافته، مساعدت های نقدی ماهانه را در مرکز و ولایات از طریق سیستم بانکی به گونۀ شفاف به ایتام، خانم های بیوه و افراد دارای معلولیت پرداخت می نمایند.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د سوالګرو د راټولولو او د سوالګرۍ څخه د مخنیوي په موخه جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند په هغې غونډه کې ګډون وکړ چې د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مرستیال محترم مولوي عبدالرحمن منیر په مشرۍ جوړه شوې وه او پکې د یو شمېر وزارتونو او مستقلو ادارو معینانو حضور درلود.

په دې غونډه کې د سوالګرو د راټولولو او له سوالګرۍ څخه د مخنیوي قانون د تطبیق لپاره د واضح طرزالعملونو د جوړولو او ځینې نور موضوعات مطرح او تر بحث لاندې ونیول شول.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې د یادو موضوعاتو د تعقیب، همغږۍ او مؤثرې رسېدګۍ لپاره به ورته ګډې غونډې دوام ومومي، څو عملي حل لارې رامنځته او لازم اقدامات په منظم ډول ترسره شي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له مرستیال سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر په خپل کاري دفتر کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني سره وکتل، په دې لیدنه کې د وزارت د خدماتو، ساتنې او پاملرنې رئیس محترم مولوي سردار محمد حبیب هم شتون درلود. د دې لیدنې په ترځ کې محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال له پاملرنې او همکاریو څخه د منښې ترځنګ، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د لاسته‌راوړنو، فعالیتونو او برنامو او ځینو نورو موضوعاتو اړوند مفصل راپور وړاندې کړ. د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال ډاډ ورکړ چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو میاشتنې نغدي مساعدتونه په بشپړ شفافیت سره حواله او هغوی ته پر خپل وخت لازم خدمتونه وړاندې کیږي. په دې لیدنه کې محترم ملا عبدالغني برادر د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د عمده لاسته راوړنو راپور تر اوریدو وروسته، د یاد وزارت د مشرتابه او کارکوونکو له هڅو او فعالیتونو څخه مننه وکړه او د شهیدانو ورثه وو او معلولیت لرونکو وګړو ته یې د لازمو اسانتیاوو پر برابرولو ټینګار وکړ.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د نداء الخیر مؤسسې له رئیس سره وکتل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني په خپل کاري دفتر کې د نداء الخیر مؤسسې له رئیس محترم حمزه کوکسال او راغلي پلاوي سره وکتل، په دې لیدنه کې، محترم شیخ صاحب د یتیمانو او معلولینو پر وړاندې د شته ستونزو او ننګونو په تړاو خبرې وکړې او د مؤسسې له مسؤلینو یې وغوښتل چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره په همغږۍ د دې اړمن قشر د اقتصادي ځان بسیاینې په برخه کې د فني او حرفوي زده کړو پروګرامونه په لاره واچوي، د فلج معلولینو لپاره ځانګړې خونې جوړې کړي، معلولینو ته برېښنایي ویلچیرونه برابر کړي تر څو هغوی د نورو له محتاجي خلاصی ومومي.

همداراز محترم شیخ صاحب ډاډ ورکړ چې ټولې هغه مرستې چې د خیریه مؤسسو له خوا د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره کېږي، په شفاف او منظم ډول مستحقو کسانو ته رسول کېږي او هر خیریه بنسټ او مرستندویه مؤسسه چې د دې اړمن قشر سره د مرستو ترسره کولو چمتوالی وښيي، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت چمتو دی چې ورسره هر اړخیزه همکاري وکړي، ځکه زموږ اساسي موخه دا ده چې اړمن کسان په ځان بسیا شي.

د دې لیدنې په ترڅ کې د ترکیې هېواد د ځینو سوداګرو له لوري یو شمېر معلولینو ته د چمتو شویو چېرکټونو د تسلیمۍ پر څرنګوالي هم خبرې وشوې.

په ورته وخت کې د نداء الخیر مؤسسې مسؤلینو ډاډ ورکړ چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره په همغږۍ به د یتیمانو او معلولینو لپاره اړینې مرستې برابرې کړي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مرستیال سره وکتل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني په خپل کاري دفتر کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مرستیال محترم الحاج مولوي عبیدالله امین زاده او راغلي پلاوي سره لیدنه وکړه، په دې لیدنه کې د شهیدانو چارو رئیس محترم مولوي روح الله نصرت او د معلولینو چارو رئیس محترم مولوي شاه ولي مسافر هم حضور درلود.

په پیل کې محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ملاتړ او د هغوی لپاره د خدمتونو وړاندې کولو د څرنګوالي په هکله خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په ټول هېواد کې د یادو قشرونو لپاره د میاشتنې نغدي مساعدتونو د وېش مسؤلیت پر غاړه لري، په همدې موخه دغه وزارت په مرکز او ولایتونو کې هر کال د یتیمانو، کونډو او معلولینو کورونه له نږدې سروې او مشاهده کړي، هغه کسان چې د وزارت له منظور شوې طرحې مطابق وو، د هغوی لپاره یې میاشتنې نغدي مساعدتونه حواله کړي دي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال ټینګار وکړ چې د دواړو وزارتونو ترمنځ اغېزمنه همغږي کولای شي د خدمتونو کیفیت لا ښه او پراخ کړي په همدې موخه یې له مقابل لوري وغوښتل چې د هغو یتیمانو لیستونه چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت تر پالنې لاندې دي، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره شریک کړي، څو د مشاهدې وروسته هغه کسان چې د نغدي مساعدتونو طرحې له شرایطو سره برابر وي، له میاشتنې نغدي مساعدتونو څخه برخمن شي.

په ورته وخت کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال د مرکز او ولایتونو په کچه د ثبت شویو یتیمانو او معلولینو د پالنې په اړه معلومات وړاندې کړل او د دواړو وزارتونو ترمنځ یې د همکارۍ پر دوام ټینګار وکړ، نوموړي ډاډ ورکړ چې د یادو کسانو لیستونه به د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره شریک کړي، څو د واقعي مستحقینو د پېژندنې او ملاتړ پروسه لا منسجمه او چټکه پر مخ ولاړه شي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني خوست ولایت ته سفر وکړ

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني په مشرۍ یو پلاوي چې د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش، د مرکزي مفتشینو آمر محترم مولوي امان الله جمالي یې ملتیا کوله، د خوست ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د اجراآتو، فعالیتونو او یتیمانو، کونډو او معلولینو ته یې د خدمتونو وړاندې کولو له بهیر څخه لیدنه ترسره کړه.

همدارنګ محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د خوست ولایت له والي محترم مولوي عبدالقیوم روحاني سره هم وکتل، په دې لیدنه کې د شهیدانو ورثه وو او معلولینو اړوند موضوعاتو په هکله د بحث ترڅنګ، د یاد ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د اداري ودانۍ اړوند ستونزې هم مطرح شوې.

محترم شیخ صاحب د خوست ولایت له والي څخه وغوښتل چې د یاد ریاست د اداري ودانۍ ستونزو د حل په برخه کې لازمه همکاري وکړي.

په ورته وخت کې د خوست ولایت محترم والي هم ژمنه وکړه چې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د اداري ودانۍ د ستونزو د حل په موخه به هر اړخیزې هڅې وکړي، تر څو شته خنډونه له منځه یوړل شي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د پروژو او پروګرامونو د لومړیتوب پېژندنې په موخه غونډه ترسره شوه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان په مشرۍ د وزارت د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د مهمو فعالیتونو او د لومړیتوب لرونکو پراختیايي پروژو د پېژندلو او تفکیک په موخه غونډه ترسره شوه، په دې غونډه کې د کارکوونکو

چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د شهیدانو چارو رئیس محترم مولوي روح الله نصرت، د معلولینو چارو رئیس محترم مولوي شاه ولي او یو شمېر نورو آمرینو شتون درلود. د دې غونډې په ترځ کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پراختیایي پروژو او د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو د تفکیک او پېژندلو په اړه بحث او تفصیلي خبرې وشوې، ترڅو د وزارت راتلونکو پنځه کلونو تول پروګرامونه، مهم فعالیتونه او د لومړیتوب ور پروژې ترتیب او د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ کې شاملې شي.

په پای کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان د ګډونوالو د نظریاتو تر اورېدو وروسته، په یاده برخه کې لازمې لارښوونې وکړې.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس د یو شمېر بانکونو له استازو سره وکتل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان په خپل کاري دفتر کې، یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د بانکي خدمتونو په برخه کې د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه، د افغانستان بانک، ملي بانک، میوند بانک او عزیزي بانک له استازو سره وکتل، د دې لیدنې پر مهال د مالي او حسابي چارو رئیس محترم مولوي محمد امین درویش، د معلولینو چارو رئیس محترم مولوي شاه ولي، د شهیدانو چارو رئیس محترم مولوي روح الله نصرت او د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش هم حضور درلود.

په پیل کې محترم مولوي کلیم الله افغان د یادو بانکونو استازو ته ښه راغلاست وویل، د یتیمانو، کونډو او معلولینو د میاشتنیو نغدي مساعدتونو د ورکړې په برخه کې د هغوی هڅې وستایلې او په یاده برخه کې شته ستونزې او ننګونې هم د بانکونو له استازو سره شریکې کړې. محترم مولوي کلیم الله افغان د بانکونو له استازو وغوښتل چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو تلیفونو ته، د میاشتنیو نغدي مرستو د حواله کېدو پر وخت د خبرتیا پیغامونو د لېږلو اسانتیاوې برابرې کړي، تر څو یاد مستحقین د پیسو د حواله کېدو پر وخت خبر شي، دا کار به د هغوی له سرګردانۍ او بانکونو ته د پرله پسې تګ راتګ مخه ونیسي.

په ورته وخت کې، د یادو بانکونو استازو هم یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره د اړینو اسانتیاوو د برابرولو او د پیسو د لېږد او حوالې په اړه د خبرتیا پیغامونو د فعالولو په برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

# سږ کال (۱۲) میلیارده افغانۍ یتیمانو، کونډو او معلولینو ته وېشل شوې دي

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ملاتړ، لاسنیوي او د هغوی ورځنیو ستونزو ته د ښې رسیدګۍ په موخه سږ کال د مرکز په ګډون د هېواد په ټولو ولایتونو کې د میاشتني نغدي مساعدتونو د وېش بهیر پیل کړی وو. د تېرو کلونو په شان په ۱۴۰۴ مالي کال کې هم د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د ځانګړې پاملرنې او شفقت له مخې، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته (۱۲) میلیارده افغانۍ بودجه ځانګړې شوې وه، څو د هېواد په کچه د یتیمانو، کونډو او معلولینو ستونزو ته پر وخت او اغېزمن ډول رسیدګي وشي. د دې وزارت له لوري تر دې دمه په ټول هېواد کې (۱۲) میلیارده افغانۍ د بشپړ شفافیت سره د (۶۵۰۰۰۰) تنو یتیمانو، کونډو او معلولینو بانکي حسابونو ته حواله شوې دي چې له دغو میاشتنیو نغدي مرستو څخه د اسلامي امارت د شهیدانو پاتې یتیمان، کونډې او معلولین، همدارنګه ملکي یتیمان، کونډې او معلولین او د تېرې اداري پاتې یتیمان، کونډې او معلولیت لرونکي وګړي پرته له هر ډول تبعیض څخه برخمن شوي دي. دغه میاشتني نغدي مرستې د ولایتونو اړتیاوو ته په کتو، د یتیمانو، کونډو او معلولینو د شمېر او د هغوی د ژوندانه د شرایطو په پام کې نیولو سره د بېلابېلو کټګوریو پر اساس تنظیم او د منظور شوې طرحې له مخې توزیع شوې دي.



# به تعداد (۱۲۲) تن ایتام و معلولین از برنامه هــای فنــی و حــرفـوی فــارغ شــدند

مرکز حمایوی ورثۀ شهداء و معلولین وزارت امور شهـداء و معـلولـین به همـکاری مـؤسسه خیریه(HHRD) برای (۱۲۲) تن از ایتام، معلولین و فرزندان افراد دارای معلولیت برنامه آموزشی فنی و حرفوی پنج ماهه را برگزار نموده بود.

برای ایتام و معلولین متذکره در این مدت، در حرفه هـای مختلف از جـمله تـرمیم کمپیوتر، موبایل، وســایل بـرق، مـوترسایکل، یـخـچال، ایرکندیشـن، سـولـر، کمـره های امـنیتی و حـرفه خیاطی آمـوزش هـای مسـلکی داده شد که طی مراسمی برای فارغان برنامه متذکره تصدیق‌نامه‌ها تفویض گردید.

در مـراسم فراغت شاگردان برنامه های فنی و حرفوی، محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری، محترم مولوی محمد موسی صدیقی رئیس امور کارکنان، محترم مفتی عبدالاحد مسعود رئیس دعوت و ارشاد، محترم مولوی احسان الله حقانی رئیس مرکز حمایوی ورثه شهداء و معـلولین، محترم مفتی فیصل خاموش رئیس اطلاعات و ارتباط عامه، محترم قاری عبیدالله فیصل رئیس مؤسسه بین المللی (HHRD)، آمرین و کارمندان آن مرکز حضور داشتند.

محترم مولوی کلیم‌الله افغان پیرامون ارزش و اهمیت برنامه های فنی و حرفوی صحبت نموده افزود: جای بسا افتخار است که امروز در مراسم فراغت (۱۲۲) تن از ایتام، معلولین و فرزندان افراد دارای معلولیت حضور داریم، کسانی که در مدت پنج ماه آموزش‌های فنی و حرفوی را در رشته های



مختـلف فرا گـرفتند، استفـاده از مهـارت‌های کسب‌شده نه تنها خودکفایی اقتصادی خانواده‌ها را تضمین می‌کند، بلکه در پیشرفت و انکشاف کشور نیز نقش مهم دارد.

محترم مولوی کلیم الله افغان به فارغان برنامه های فنی و حرفوی توصیه نمود که قدر فرصت‌های بدست آمده را بدانند، مهارت‌های خود را توسعه دهند و به آن به دیده قدر ببینند.

رئیس عمومی مالی و اداری یادآور شد که این برنامه با حمایت مالی مؤسسه خیریه (HHRD) و هماهنگی وزارت امور شهداء و معلولین عملی شده و باید ارزش و اهمیت این منابع را دانست.

در ادامه این برنامه، محترم مولوی محمد موسی صدیقی در رابطه به اهمیت کسب و کمال صحبت‌های همه‌جانبه ارائه نموده و افزود: کسب و کمال به انسان عزت، جرأت و وقار می‌بخشد زیرا از یک سو انسان را از محتاجی دیگران رهایی می‌بخشد و از سوی دیگر، کاسب از طریق



کسب خود رزق و نفقه حلال به دست می‌آورد و برای جامعه و مردم خود مفید واقع می‌شود، این امر سبب ترقی و پیشرفت جامعه و کشور نیز می‌گردد.
محترم مولوی محمد موسی صدیقی از فارغان خواست تامهارت‌های خود را با دیگران به اشتراک بگذارند تا افراد دیگر جامعه نیز از آن بهره‌مند شوند.
رئیس امور کارکنان افزود که مرکز حمایوی ورثه شهدا و معلولین تلاش می‌کند تا قشر نیازمند جامعه را به خودکفایی اقتصادی برساند و آموزش های دین مبین اسلام نیز به ما این درس را می‌دهد که به حقوق هر فرد جامعه توجه داشته باشیم و با قشر نیازمند، همکاری و تعاون داشته باشیم.
محترم مفتی عبدالاحد مسعود رئیس دعوت و ارشاد، در رابطه به اهمیت کسب رزق حلال، بر اساس آیات مبارک قرآن عظیم‌الشأن و احادیث نبوی صلی الله علیه و سلم صحبت نموده افزود که پیامبر اسلام صلی الله علیه و سلم فرموده‌اند: " دست بالا نسبت به دست پایین بهتر است" به این معنا که کسانی که خیرخواه و حمایتگر دیگران هستند، ارزشمندتر از کسانی‌اند که تنها کمک دریافت می‌کنند.
محترم مفتی عبدالاحد مسعود گفت هر کاسبی که با صداقت و تلاش رزق حلال به دست می‌آورد، دوست خداوند متعال است و تآکید نمود که امکانات و فرصت‌ها در اختیار همه مردم قرار دارند و باید از آن استفاده درست صورت گیرد، زیرا که کسب رزق حلال و خدمت به مردم نه تنها سعادت دنیوی، بلکه رضایت الهی را نیز به دنبال دارد.
در این برنامه محترم مفتی فیصل خاموش رئیس اطلاعات و ارتباط عامه، در سخنان خود بر اهمیت تعاون و همکاری متقابل در امور مختلف زندگی تأکید کردند.
محترم مفتی فیصل خاموش همچنین از حمایت‌های مستمر مؤسسه (HHRD) در راستای خودکفایی اقتصادی ایتام و معلولین قدردانی نموده افزود که همکاری و حمایت از نیازمندان تنها وظیفه و مسؤلیت دولت نیست بلکه باید همه افراد جامعه در این راه تلاش بورزند.
در این مراسم، محترم قاری عبید الله فیصل رئیس مؤسسه (HHRD) معلومات همه جانبه را در رابطه به فعالیت های مؤسسه خیریه ارایه نموده و فارغان را تشویق کردند تا از مهارت‌هایی که کسب کرده‌اند، حداکثر استفاده را ببرند و آن‌ها را وسیله برای کسب رزق حلال قرار دهند.
در اخیر این برنامه برای ایتام و معلولین فارغ شده ابزار و وسایل حرفه مربوطه نیز توزیع گردید.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په سلواغې میاشت کې زرګونو تنو مستحقو کسانو ته مرستې ووېشلې

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د شهیدانو ورثه وو او معلولینو د ملاتړ او لاسنیوي په موخه د خیریه بنسټونو سره په همغږۍ په سلواغې (دلوې) میاشت کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې پر (۱۱۳۴۹) تنو مستحقو یتیمانو، کونډو او معلولینو باندې د خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې ووېشلې، د دغو مرستو له برکته د ژوند د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د زرګونه اړمنو کسانو ملاتړ شوی دی.

د یاد مرستو څخه (۳۹۸۰) تنه یتیمان، کونډې او معلولین په کابل، (۱۳۰۰) په ننګرهار، (۹۰۰) په پکتیکا، (۱۱۰۰) په کاپیسا، (۶۰۰) په لوګر، (۶۰۰) په خوست، (۲۵۰) په کندهار (۱۶۰۰) په هلمند، (۵۰۰) په پروان، (۱۴۷) په سرپل، (۱۰۰) په نیمروز، (۱۱۰) په لغمان، (۷۵) په پکتیا، (۸۷) په غزني ولایتونو کې برخمن شوي دي.

یادې مرستې د شفاف، منظم او عادلانه بهیر له لارې وېشل شوي او موخه یې د شهیدانو د کورنیو ملاتړ، د معلولینو لاسنیوی او د بېوزله قشرونو د ژوند د شرایطو ښه کول دي.

د یادونې وړ ده چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تر دې وړاندې هم د مرکز په شمول د هېواد په ټولو ولایتونو کې د شهیدانو او معلولینو زرګونو کورنیو ته خوراکي توکي، نغدي مرستې، ویلچرونه، ژمنۍ البسه او د اقتصادي ځان بساینې په برخو کې مرستې ترسره کړي دي.









# گزارش کارکردها

## و دستاوردهای ریاست ها

## د دفتر ریاست



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر ریاست چې د وزارت موخو ته د رسیدو لپاره د نورو ادارو سره د ښو اړیکو ټینګولو، د مراسلاتو اصولي پړاوونو د تېرولو، اړوند برخو ته د فرمانونو، حکمونو، هدایتونو، د کابینې او د وزارت د رهبری شورا پریکړو د پر وخت ابلاغ او د وزارت محترم مقام د مجلسونو د تنظیمولو مسؤلیت لري په (۱۴۰۴) مالي کال کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

د دفتر ریاست د روان کال په اوږدو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی (۱۱) فرمانونه، (۴۳) حکمونه او (۲) هدایتونه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مقام په امضاء مرکزي او ولایتي واحدونو ته د وروستیو اجراآتو په موخه تکثیر او استولي دي.

یاد ریاست سږ کال د ریاست الوزراء محترم عالي مقام (۲۷) حکمونه او (۴) هدایتونه د مقام په امضاء د وزارت مرکزي او ولایتي ریاستونو ته تکثیر او ابلاغ کړي دي.

دغه ریاست د افغانستان اسلامي امارت د محترمې کابینې (۱۷) مصوبې او د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي محترم کمیسیون (۱۵) مصوبې اړوندو واحدونو ته استولي دي، همداراز د وزارت محترمې رهبري شورا د (۱۷) ترسره شویو غونډو راپورونه ترتیب مرکزي او ولایتي واحدونو ته د اجراآتو لپاره استولي دي.

سږ کال د وزارت محترم مشرتابه (۲۲۲۹) تنو معلولینو، د شهیدانو ورثه وو او مراجعینو سره یې ملاقات کړی دی، د هغوی ستونزې او غوښتنې اوریدلي او اړوندو برخو ته یې لازم هدایت ورکړی دی.

د دې کال په ترڅ کې (۱۹۲۷) اسناد د دفتر ریاست ته راغلي چې د ثبت وروسته اړوندو مرکزي او ولایتي ریاستونو ته د وروستیو کړنو په موخه استول شوي دي.

د آرشیف په برخه کې سږ کال (۵۳۲۴) اسناد د دې ریاست د پستي خدمتونو له لارې طی مراحل شوي (۶۱۹۵) رسمي اسناد د نورو وزارتونو، خپلواکو ادارو، د ولایتي ریاستونو څخه دې ریاست راغلي او د ثبت او طی مراحل کولو وروسته اړوند برخو ته تکثیر شوي دي.

د دې کال په اوږدو کې (۱۸۵۶) وړاندیزونه، عرایض او قرار داد لیکونه د محترم مقام له حکم وروسته ثبت او مراجعینو ته تسلیم شوي دي.

سږ کال (۱۸۰۰۰) تنو مراجعینو چې دې وزارت ته مراجعه کړې اړوند ځانګو ته یې لارښوونه شوې ده.

همداراز د بېلابېلو موضوعاتو په اړه له ولایتونو څخه(۲۱۱۹) رالېږل شوي مکتوبونه هم ثبت شوي دي.

ریاست امور کارکنان یکی از ریاست های کلیدی وزارت امور شهداء و معلولین به شمار میرود، اهداف و فعالیت های اساسی را که در سال ۱۴۰۴ به منظور جذب، پرورش، توسعه و حفظ نیروی انسانی لایق و شایسته کار جهت رسیدن به اهداف وزارت. تطبیق قوانین، مقررات، طرزالعمل ها، لوایح و رهنمود های مربوط به استقامت کاری این ریاست در تمام امورات به وقت و زمان معین آن، تشخیص حجم کار ریاست ها، تحلیل وظایف و ترتیب لوایح وظایف برای هر بست، پلانگذاری تشکیلاتی امورکارکنان نظر به حجم کاری و ضروریات هر بخش یا ریاست، طرح، ترتیب، تنظیم و انکشاف تشکیلات اداره نظر به اهداف و نیازمندی های داخلی وزارت، استخدام افراد و اشخاص واجد شرایط و جذب کادر های ورزیده به اساس تقوا، پرهیزگاری و لیاقت مطابق احکام شریعت و قوانین نافذه کشور، ترتیب و تنظم دفاتر سوانح برای کارمندان مرکزی و ولایتی، حفظ و نگهداری از آنها، درج تمامی معلومات کارمندان مرکزی و ولایتی در دیتابیس ریاست امور کارکنان و بدسترس قرار دادن معلومات به وقت معین به مراجع متقاضی، کنترول به وقت و زمان از حاضری کارمندان و ارائه راپور حاضری ماهوار غرض اجرای معاشات کارمندان، مدیریت نظارت از جریان ارزیابی اجرآآت کارکنان و اتخاذ تصامیم در امر تطبیق و نتایج آن جهت ارتقای قدم و یا ترفیع، تنظیم و بررسی نیاز سنجی آموزشی، ترتیب پلان ها و تدویر برنامه های آموزشی غرض ارتقاء ظرفیت کارمندان، معرفی کارمندان به برنامه های آموزشی داخلی و خارجی و رسیدگی به شکایات کارکنان به همکاری کمیته حل اختلافات انجام داده است.

اینک فعالیت های و دستآورد های عمده سال جاری ریاست امور کارکنان قرار ذیل مختصراً تحریر میگردد:

۱. طی مراحل و تکمیل نمودن اسناد استخدامی ۶۴ تن کارکنان جدید التقرر در مرکز و ولایات.

۲. طی مراحل نمودن اسناد تبدیلی ۵۷ تن کارکنان مرکزی و ولایتی.

۳. طی مراحل نمودن اسناد ارتقاء ۳۴ تن کارکنان مرکزی و ولایتی.

۴. طی مراحل نمودن اسناد تنزیل ۱۵ تن کارمندان مرکزی و ولایتی.

۵. طی مراحل تکمیل اسناد استعفاء ۱۹ تن کارکنان مرکزی و ولایتی.

۶. طی مراحل تکمیل اسناد انفکاک ۱۷ تن کارکنان مرکزی و ولایتی.

۷. طی مراحل عقد قراداد ۹ تن کارمندان سهمیه( ان تی ای ) مرکز.

۸. طی مراحل عقد و تمدید قرارداد (۸۵) تن کارکنان پروژه یی ( ان تی ای ) مرکز و ولایات در شش ماه اول و شش ماه دوم سال مالی ۱۴۰۴.

۹. طی مراحل عقد و تمدید قرارداد ۲۷ تن کارکنان بالمقطع مرکزی در شش ماه اول و شش ماه دوم سال مالی ۱۴۰۴.

۱۰. تحریر، ترتیب و تکمیل ۵۹ جلد دفاتر سوانح برای کارکنان جدید التقرر مرکز و ولایات.

۱۱. درج معلومات فورم پ۲ تبدیلی ۵۷ تن کارکنان

و معامله آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۲. درج معلومات فورم پ۲ تنزیل ۱۵ تن کارکنان و معامله آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۳. درج معلومات فورم پ۲ ارتقاء ۳۴ تن کارکنان و معامله آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۴. درج معلومات فورم پ ۲ استعفاء ۲۴ تن کارکنان و معامله آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۵. درج معلومات فورم پ۲ انفکاک ۲۴ تن کارکنان و معامله آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۶. درج معلومات مکتوب تثبیت سویه تحصیلی ۱۳۷ تن کارمندان مرکزی و ولایتی در دفتر سوانح و دیتابیس معلومات.

۱۷. ثبت، تثبیت و محاسبه ایام جهاد (۲۰۶) تن مجاهدین، به منظور ارتقاء قدم شان و ابلاغ آن غرض اجراآت بعدی به مراجع ذیربط و درج آن در دفاتر سوانح و دیتابیس معلومات مرکز و ولایات.

۱۸. ارزیابی اجراآت سالانه ۱۰۱ تن کارکنان واحد های مرکزی و ولایتی از طرف کمیته ارزیابی اجراآت کارکنان.

۱۹. درج معلومات تشکیل منظور شده سال ۱۴۰۴ وزارت با کمیت ۱۰۳۶ بست در سیستم CPA-MIS.

۲۰. فعال نگهداشتن سیستم حاضری(PAY-ROLL)، ترتیب و ارسال راپور حاضری ماهوار کارکنان رسمی، بالمقطع و ان تی ای.

۲۱. معرفی ۶۶ تن کارمندان این وزارت به برنامه های آموزشی مراسلات اداری، پلان گزاری با تمرکز استراتیژیک، مدیریت امور کارکنان، مدیریت زمان، مسؤلیت شناسی و آگاهی دهی قانون عقود، تخصص دیپلوماسی و زبان عربی به انستیتوت محترم خدمات ملکی و وزارت های محترم امور خارجه، کار و امور اجتماعی و حج و اوقاف.

۲۲. معرفی ۴۸ تن کارمندان این وزارت به برنامه های آموزشی کمپیوتر و انگلیسی مربوط این ریاست.

۲۳. دایر نمودن برنامه آموزشی به منظور ارتقاء ظرفیت ۶۴ تن کارمندان این وزارت به همکاری موسسه مطالعات استراتیژیک و پالیسی افغانستان در بخش های مراسلات اداری، مدیرت مالی، نظارت و ارزیابی و پروپوزل نویسی در مقر این وزارت.

۲۴. ایجاد کمیته های جداگانه، استخدام کارکنان رسمی ان تی ای و بالمقطع.

۲۵. ایجاد کمیته بازنگری و ترتیب لوایح وظایف.

۲۶. ایجاد کمیته حل اختلافات ناشی از کار.

۲۷. ایجاد کمیته ارزیابی اجراآت کارکنان جهت ارزیابی اسناد و اجراآت کارمندان و کارکنان رسمی.

۲۸. ایجاد کمیته تثبیت و محاسبه ایام جهاد مجاهدین ذریعه فورم تصفیه در قدم، ترفیع و تقاعد.

۲۹. تحریر و ترتیب طرح تشکیل سال مالی ۱۴۰۴ به سطح واحد های مرکزی و ولایتی.

۳۰. اخذ منظوری تشکیل به کمیت ۱۰۳۶ بست و تکثیر آن به واحد های مرکزی و ولایتی.

۳۱. ایجاد، تعیین و توظیف اعضاء کمیته طرح تشکیل پیشنهادی سال مالی ۱۴۰۵ هـ ش.

## ریاست تفتیش داخلی



ریاست تفتیش داخلی وزارت امور شهداء و معلولین با تلاش‌های پیگیر، تعهد کاری و پشتکار مستمر، توانسته است نظم، اطاعت اداری و شفافیت بی‌سابقه‌ای را در ریاست‌های مرکزی و ولایتی وزارت امور شهداء و معلولین به وجود آورد. این ریاست با رعایت دقیق اصول تفتیش، نظارت همه‌جانبه و پی‌گیری لحظه‌به‌لحظه کارکردها و فعالیت‌های یک‌ساله، نقش مؤثری در بهبود سیستم اداری و تطبیق درست قوانین و مقررات ایفا نموده است.
بررسی هـای انجـام شده نشان دهنده دیانت، مسئولیت‌پذیری و تعهد عمیق این ریاست در راستای تطبیق حکومت‌داری شایسته و شفاف در چارچوب نظام اسلامی می‌باشد. نتایج این تلاش‌ها به‌صورت واضـح در تسـریع رونـدهای اداری، کاهش فساد و اشتباهات اداری، ارتقای نظم کاری و افزایش اعتماد مردم نسبت به ادارات امارتی قابل مشاهده است.

همچنان، فعالیت‌های مؤثر ریاست تفتیش داخلی باعث گردیده است تا تصمیمات مدیریتی با دقت بیشتر عملی گردد، هماهنگی میان ریاست‌های مربوطه وزارت افزایش یابد و زمینه‌های لازم برای بهبود خدمات‌رسانی، توسعه اداری و پیشرفت پایدار در سطح کشور برای معلولین فراهم شود.
ریاست تفتیش داخلی در سال مالی ۱۴۰۴، کارکردها و اجراآت (۳۲) ریاست‌های ولایتی و (۹)ریاست مرکزی وزارت امور شهداء و معلولین را به‌گونه همه‌جانبه مورد تفتیش، بررسی و ارزیابی قرار داده است. در جریان این بررسی‌ها، چگونگی ارائه خدمات به ایتام، خانم‌های بیوه و معلولین، روند ثبت و تثبیت مستحقین، شیوه پرداخت مساعدت‌های نقدی ماهانه، و همچنان برخی امور مهم اداری و مالی به‌صورت دقیق مورد ارزیابی قرار گرفته است و نیز در راستای اصلاح امور مربوطه، (۲۹۹) توصیه اصلاحی به ریاست‌های یادشده ارائه کرده است.
همچنان ریـاسـت تـفـتیش داخـلی در جریان بررسی‌ها، از نحوه تطبیق احکام و فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، احکام مقام عالی ریاست‌الوزراء و فیصله‌های شورای رهبری وزارت اطمینان حاصل کرده است.
در مجموع، کارکردهای ریاست تفتیش داخلی بیانـگر نقـش کلـیدی ایـن ریـاست در تـأمین شفافیت، حساب دهی، نظم اداری و بهبود کیفیت خـدمات رسانی به قشرهای آسیب‌پذیر جامعه بوده و گام‌های مؤثری در راستای تقویت نظام اداری کشور برداشته است.


## د څارنې او ارزونې ریاست

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د څارنې او ارزونې ریاست د مسلکي، منظم او معیار محوره میکانیزمونو له لارې د حساب ورکونې، شفافیت، مؤثریت او دوامدارې پراختیا په برخه کې مهم او بنسټیز رول ترسره کړی دی. یاد ریاست د وزارت د پالیسیو، پلانونو او د اجراآتو د تطبیق بهیر تر دوامدارې څارنې لاندې نیولی او د لاسته راوړنو، ستونزو او تشو د کره تشخیص له لارې یې د پرېکړې‌نیونې لپاره دقیق، باوري او پر وخت معلومات د وزارت له رهبرۍ سره شریک کړي دي.

د څارنې او ارزونې ریاست د وزارت پر اساسي برنامو او فعالیتونو اغېزمنه څارنه ترسره کړې او د منابعو د اغېزمن، شفاف او پر اصولو ولاړ استعمال په برخه کې یې خپل رغنده رول لوبولی دی. د دې ریاست هڅو د ټاکل شویو موخو د تحقق، د کاري بهیر د اصلاح او د اجراآتو د کیفیت د لوړولو زمینه برابره کړې ده.

دغه ریاست د وزارت د ټولو مرکزي او ولایتي ریاستونو کاري بهیرونه په منظم او سیستماتیک ډول ارزولي دي، د دې ارزونې په بهیر کې د خدمتونو وړاندې کولو د څرنګوالي، یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د میاشتني نغدي مساعدتونو د ورکړې، د هغوی د ثبت، تثبیت او اداري چارو له بهیر څخه یې ارزونه او څارنه ترسره کړې ده.

د څارنې او ارزونې ریاست د همکارو مؤسسو او خیریه بنسټونو له لوري د ترسره شویو مرستو د وېش او څرنګوالي څخه هم په منظم ډول څارنه ترسره کړې ده، تر څو د وزارت له پالیسیو، اهدافو او لومړیتوبونو سره د هغوی مطابقت یقیني شي.



دغه ریاست د څارنې او ارزونې د پروسو د اغېزمن تطبیق په موخه، نوبت وار او مشخص پلانونه ترتیب او عملي کړي دي، چې له امله یې د څارنې په چارو کې ښه نظم، همغږي او پوښښ رامنځته شوی دی. همدارنګه، د ټولو مرکزي او ولایتي ریاستونو د څارنې او ارزونې راپورونه راټول، توحید او تحلیل شوي او پایلې یې د وزارت رهبرۍ ته وړاندې شوې دي.

سربېره پر دې، د څارنې او ارزونې ریاست د وزارت د تدارکاتي چارو ارزونه هم په منظم ډول ترسره کړې ده، تر څو په دې برخه کې شفافیت، مؤثریت او د قوانینو او مقرراتو رعایت تضمین شي، د دغو ارزونو پایلې د تدارکاتي بهیر د ښه‌والي او د احتمالي ستونزو د مخنیوي لامل ګرځېدلې دي.

په ټوله کې، د څارنې او ارزونې ریاست د یادو فعالیتونو له لارې د وزارت د کاري سیستم په پیاوړتیا، د حساب ورکونې او شفافیت په زیاتوالي او د خدماتو د کیفیت په لوړولو کې ارزښتناک رول اداء کړی او د شواهدو پر بنسټ د اغېزمنو پرېکړو لپاره یې قوي بنسټ برابر کړی دی.

# ریاست ارتباط خارجه، پلان و امور تقنین





ریاست ارتباط خارجه، پلان و امور تقنین وزارت امور شهداء و معلولین که مسئولیت تنظیم روابط خارجی، توحید و تحلیل گزارشات، ترتیب پلان‌ها و پیشبرد امور تقنینی و پالیسی این وزارت را به عهده دارد. این ریاست در سال مالی ۱۴۰۴ با ایجاد هماهنگی با نهادهای مربوطه، جمع‌آوری و تحلیل گزارشات، ترتیب پلان‌های کاری و بررسی اسناد تقنینی، فعالیت‌ها و کارکردهای لازم را انجام داده اند که برخی موارد مهم آنرا ذکر می نماییم.

در بخش امضای تفاهمنامه ها:

وزارت امور شهداء و معلولین در سال مالی ۱۴۰۴ به ارزش مجموعی (۶) میلیون، (۷۰) هزار و (۳۴۵) دالر (۶۰) تفاهمنامهٔ همکاری را با مؤسسات خیریه ملی و بین المللی امضاء نموده است که بر اساس آن به (۴۶۷۶۵) تن ایتام، خانم های بیوه و معلولین مواد خوراکی، پول نقد، ویلچر، کمک های زمستانی، کمک های رمضانی، البسه و قرطاسیه باب توزیع گردیده است، همچنان زمینه آموزش های فنی و حرفوی، ایجاد فرصت های کاری و خودکفایی اقتصادی نیز فراهم گردیده است.

در بخش تحلیل، توحید پلان و گزارشات:

توحید، تحلیل و اخذ منظوری پلان عمومی سال ۱۴۰۴ وزارت و تکثیر آن به ریاست های مربوطه

تحلیل و اخذ منظوری پلان کاری برای ریاست های امور شهداء و معلولین (۳۴) ولایات.

جمع آوری گزارشات ریاست های امور شهداء و معلولین ولایات مطابق پلان منظور شده .

ارسال گزارشات مطابق پلان منظور شده به شکل ربع وار به ریاست محترم عمومی اداره امور.

ارسال گزارشات پروژه های انکشافی به شکل ربع وار به وزارت محترم اقتصاد.

ارسال گزارشات اجراآت بودجه ملی به شکل ربع وار به وزارت محترم مالیه.

در بخش تقنین، پالیسی و پروژه ها:

ترتیب و اخذ منظور پالیسی وزارت امور شهداء و معلولین و تکثیر آن به ریاست های مربوطه.

ترتیب مسوده قانون امتیازات و مساعدت های نقدی معلولین، ایتام و خانم های بیوه، شریک نمودن آن به بخش تدقیق و ترجمه وزارت محترم عدلیه.

تدوین رهنمود کاری ریاست تفتیش داخلی و اخذ منظوری آن از مقام وزارت امور شهداء و معلولین

ترتیب طرح جامع تداوی معلولین، ایتام و خانم های بیوه و ارسال آن به وزارت محترم صحت عامه.

ترتیب و اخذ منظوری و میکانیزم کاری ریاست پلان، ارتباط خارجه و امور تقنین.

ترتیب رهنمود و تنظیم شهرک برای معلولین و ورثهٔ شهداء.

ترتیب و رهنمود برنامه های انکشافی و تشریحی وزارت امور شهداء و معلولین برای پنج سال آینده و ارسال آن به وزارت محترم اقتصاد به منظور شامل نمودن در رهنمود انکشافی افغانستان.

ترتیب بز لاین، شاخص ها، تارگیت ها و اهداف وزارت و ارسال آن به وزارت محترم اقتصاد به منظور شامل نمودن در برنامه (SDG).

بررسی، تحلیل و اصلاح کانسپت نوت پروژه های ریاست های امور شهداء و معلولین (۱۱) ولایات

بررسی و اصلاح میکانیزم و رهنمود های سه ریاست مرکزی.

اشتراک در کنفرانس و مجالس مختلف و ارایه اهداف استراتیژیک و پالیسی وزارت امور شهداء و معلولین.

## د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست دنده لري چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره ټولنیز خدمتونه برابر کړي، یاد ریاست یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د مرستو د وېش، تنظیم او د نورو خدمتونو په وړاندې کولو کې کلیدي رول لوبولی دی، د وزارت د مشرتابه په لارښوونه د خیریه بنسټونو او مؤسساتو سره



په بشپړې همغږۍ هڅه کړی، ترڅو د مستحقو کسانو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي. په ۱۴۰۴ لمریز کال کې د مرکز او ولایتونو په کچه (۷۲۹۷۲) تنه مستحق یتیمان، کونډې او معلولین له دې مرستو برخمن شوي دي. (۵۷۵۶۸) تنو په ولایتونو کې او (۱۵۴۰۴) مستحق کسانو په مرکز کې خوراکي توکي، ژمنۍ البسې، نغدي مرستې، ویلچیرونه او د اقتصادي ځان بسیاینې په برخو کې نورې مرستې ترلاسه کړي دي. په مرکز کې (۵۶۶۲) تنو ته خوراکي توکي، (۱۸۵۰) تنو ته ژمنۍ البسه، (۳۵۳۸) تنو ته نغدي مرستې، (۸۸۲) تنو ته ساده او (۸۰) تنو ته برېښنايي ویلچیرونه ورکړل شوي دي. پاتې نورو مستحقو کسانو لپاره د اقتصادي ځان بسیاینې او نورو برخو کې مرستې ترسره شوې دي. همداراز په ولایتونو کې د مستحقو کسانو د ملاتړ لپاره (۳۹۰۶۶) تنو ته خوراکي توکي (۱۰۹۸۰) تنو ته نغدي مرستې (۷۰۶۸) تنو ته ساده او برېښنايي ویلچیرونه ورکړل شوي دي، د نورو مستحقو کسانو لپاره د خیاطۍ ماشینونه، سولر وسایل، زرنج نقلیه وسایط، ژمنۍ البسه او نورې مرستې هم برابرې شوې دي. د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر اساس، د شهیدانو ورثه وو لپاره د ښارګوټي د جوړولو په موخه د (۳۰۰) جریبه ځمکې د انتقال چارې یې ترسره کړې دي. یاد ریاست د معلولینو د کارموندنې په برخه کې، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر اساس د (۱۰۰۰) تنو مجاهدینو معلولینو اسناد راټول کړي او د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره د کارموندنې په موخه شریک کړي دي. همداراز دې ریاست د حج بیت الله شریف د فریضې د اداء کولو لپاره د شهیدانو ورثه وو او معلولینو د چارو د تنظیم په موخه ځانګړی رهنمود ترتیب کړی دی. په پای کې ویلی شو چې د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست په ۱۴۰۴ کال کې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ژوند د ښه کولو لپاره پراخې او منظمې مرستې ترسره کړې دي.

## ریاست امور شهداء مرکز

ریاست امور شهداء مرکز که مسؤلیت تثبیت، ثبت و پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه به ایتام و خانم های بیوه را در نواحی مختلف شهر کابل به عهده دارد در سال مالی ۱۴۰۴ برای (۴۵۴۰) خانوادۀ ایتام مبلغ(۳۰۴۶۹۷۰۰۱) افغانی را به عنوان مساعدت های نقدی ماهانه مطابق طرح منظور شده وزارت از طریق سیستم بانکی به گونۀ شفاف و منظم پرداخت نموده اند.

این ریاست به تعداد (۳۲۳۴) عرایض ایتام و خانم های بیوه را جهت تثبیت به مدیریت سروی راجع نموده که از این میان به تعداد (۱۴۳۴) خانواده های ایتام مورد سروی قرار گرفته و خانواده های که مطابق طرح منظور شده وزارت امور شهداء و معلولین بودند، ثبت گردیدند.

به تعداد (۲۳۵۰) تن از خانم های بیوه و (۷۲۵۰) تن از ایتام در نواحی مختلف شهر کابل از نزدیک مشاهده گردیده تا مستحقین واقعی شناسایی و از ضیاع پول بیت المال جلوگیری بعمل آید.

این ریاست در سال مالی ۱۴۰۴ به تعداد (۹۳۰) تن ایتام و خانم های بیوه را جهت ایجاد حسابات بانکی به وزارت محترم مالیه معرفی نموده اند و اسناد برخی از ایتام و خانم های بیوه به ولایات مربوطه شان انتقال یافته است.

کارمندان ریاست امور شهداء نظارت همه جانبۀ بر روند توزیع مساعدت‌های که از سوی مؤسسات و نهادهای کمک رسان با این وزارت صورت می گیرد، انجام داده اند. این نظارت‌ها شامل توزیع مواد خوراکی و قرطاسیه، راه اندازی مسابقۀ سیرت النبی صلی الله علیه وسلم، قرعه‌کشی ده باب خانه مسکونی برای خانواده‌های ایتام در ولسوالی ده سبز و نواحی هشتم، نهم و دوازدهم شهر کابل، پرداخت مساعدت‌های نقدی ماهانه از سوی مؤسسه خیریه احساس برای ۴۳۳ تن از ایتام و سایر کمک‌های ارائه شده می‌باشد.

همچنان این ریاست در راستای حفظ اسناد ورثۀ شهداء، متوفیان و نظامیان اداره قبلی اقدامات لازم انجام داده اند و دیتابیس منظم اسناد را نیز ایجاد نموده است.



## ریاست امور معلولین مرکز

ریاست معلولین مرکز به عنوان یکی از واحدهای اساسی وزارت امور شهداء و معلولین، مسئولیت تثبیت افراد دارای معلولیت، ثبت و راجستر آنان و پرداخت منظم مساعدت‌های نقدی ماهانه به اشخاص واجد شرایط را در نواحی مختلف شهر کابل به عهده دارد. این ریاست در سال مالی ۱۴۰۴ با در نظرداشت طرح منظور شده، طرزالعمل‌های مربوطه و هدایات مقام محترم وزارت توانسته است فعالیت‌ها و اجراآت مؤثری را به‌منظور بهبود ارایه خدمات و تأمین شفافیت انجام دهد که به طور خلاصه تشریح می گردد:

در مجموع، برای تعداد (۱۲۱۱۵) تن معلولین شامل مجاهدین امارت اسلامی، معلولین ملکی و نظامی، مبلغ (۳,۲۷۹,۴۴۱,۶۹) افغانی به حیث مساعدت نقدی حواله گردیده است.

اسناد تعداد (۹۰) معلولین به ولایات مربوطه انتقال داده شده و همچنان اسناد تعداد (۵۸) تن معلولین از ولایات به مرکز مواصلت ورزیده است.

تعداد (۱۰۰) تن معلولین به‌منظور فراگیری آموزش‌های فنی و حرفه‌ای به مرکز حمایوی ورثهٔ شهداء و معلولین معرفی گردیده اند. همچنان تعداد (۱۴) تن معلولین به شفاخانه چهارصد بستر جهت ساخت اعضای مصنوعی معرفی و تعداد (۱۰۳۳) تن معلولین به ریاست تنظیم خدمات اجتماعی به‌منظور دریافت کمک‌های حمایوی معرفی شده اند. علاوه بر آن، تعداد (۵۰۸) تن معلولین نو تثبیت‌شده در دفاتر (م–۴۰) ثبت گردیده اند.

اسناد معلولینی که سن‌شان کمتر از پنج سال می‌باشد، همچنان معلولین یک چشم، یک عضو مادرزاد و معلولین مریض، بعد از تثبیت مجدد برای تعداد (۲۴۰) تن به بخش محاسبه محول گردیده است. تعداد (۸۴۱) عریضه مربوط به معلولین نو تثبیت ثبت گردیده و در مورد (۴۳۵) تن معلولین که محل سکونت اصلی‌شان خارج از ولایت کابل می‌باشد، به‌منظور تشخیص ثبت یا عدم ثبت، استعلام معلومات صورت گرفته است.



خانه‌های تعداد (۶۵۵) تن معلولین سروی گردیده و کارت معلولیت برای آنان توزیع شده است.

تعداد (۱۲۲) تن معلولین مجاهدین امارت اسلامی ثبت و بایومتریک گردیده و اسناد تعداد (۱۳۸۷) تن معلولین مجاهدین سابقه بررسی و مورد تأیید اعضای کمیته بررسی قرار گرفته است. همچنان در اسناد تعداد (۱۷) تن مجاهدین سابقه تغییرات مشاهده گردیده است.

اسناد تعداد (۱۴۷۷) تن معلولین نظامی سابقه بررسی گردیده و در فورم معلولیت تعداد (۵۴) تن از آنان اصلاحات لازم به‌عمل آمده است.

تعداد (۴۲۲۰) تن معلولین ملکی مورد بررسی قرار گرفته که از این میان، اسناد تعداد (۹۰۷) تن تصحیح گردیده است. همچنان اسناد تعداد (۳۴۲۰) تن معلولین حوادث سابقه بررسی و در فورم تعداد (۵۳) تن اصلاحات لازم صورت گرفته است.

اسناد تعداد (۱۴۵) تن معلولین مادرزاد مشاهده و در فورم‌های مربوطه تصحیح گردیده و اسناد تعداد (۲۵۵) تن معلولین که مطابق طرح منظورشده نمی‌باشند، فعلاً معطل نگه داشته شده است.

تعداد (۲۵۴۸) قطعه فورم معلولین که شامل تغییرات در دفتر (م–۴۰) و شماره تماس بوده است، مجدداً بایومتریک، تصحیح و در دفاتر مربوطه ضم گردیده است.

تعداد (۱۵۰۹۳) قطعه اسناد جهت سروی و تصفیه به آمریت تثبیت ارسال گردیده که از این میان، (۷۰۴) تن غیرحاضر بوده و متباقی افراد در پروسه سروی و تصفیه اشتراک نموده‌اند.

تعداد (۱۲۱۱۵) قطعه اسناد معلولین جهت پرداخت مساعدت به بخش محاسبه ارسال و همچنان (۱۶۰۲۸) قطعه اسناد جهت اصلاح در سیستم به ریاست دیتابیس مواصلت داده شده است.

دیتابیس و اصلاح نمودن تعداد (۲۷۴) قطعه اسناد مربوط به معلولین ملکی، نظامی، مادرزاد و حوادث انجام گردیده است.

تعداد (۲۲۰۷) قطعه اسناد مربوط به معلولین یک چشم، یک عضو، مریض، مادرزاد، معلولین فوتی و همچنان اسنادی که از جانب هیئت تثبیت مسترد گردیده‌اند، ترتیب، تنظیم و در دیتابیس ثبت گردیده است.



## د دعـــوت او ارشاد ریاست

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست چې د دې وزارت له مهمو ریاستونو څخه بلل کېږي، د کارکوونکو ترمنځ د اسلامي ارزښتونو د ترویج، د نبوي صلی الله علیه وسلم د سنتو رعایت کولو او د ټولنیزو او اخلاقي چارو د اصلاح او سمون په برخه کې مهم رول درلودلی دی.
یاد ریاست د کارکوونکو لپاره د امربالمعروف او نهي عن المنکر او د شکایتونو اوریدو محترم وزارت له لوري ترتیب شوی تعلیمي نصاب یې عملي کړی، اصلاحي او تربیتي ویناوې یې وړاندې کړې، کارکوونکي یې د جماعت لمانځه اداء کولو، د دیني فرایضو ترسره کولو او د اسلامي اصولو رعایت کولو ته هڅولي او د کارکوونکو سیرت او ظاهر یې د نبوي صلی الله علیه و سلم له سنتونو سره برابر کړی دی.
د دې ترڅنګ، یاد ریاست په ۱۴۰۴ کال کې لاندې لاسته راوړنې هم درلودلې، چې په مختصر ډول دلته وړاندې کېږي:
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو د دیني پوهاوي او اسلامي اخلاقو د پیاوړتیا لپاره هره ورځ د ۳۰ دقیقو لپاره په جومات کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري توشیح شوي قوانین، د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون او ترتیب شوی تعلیمي نصاب تدریس کړی دی.
د دعوت او ارشاد چارو د انسجام لوی ریاست د هدایت سره سم، په اونۍ کې یوه ورځ کارکوونکو ته د قرآن عظیم الشان تجوید تدریس کېږي او د ماسپښین لمونځ وروسته هغوی ته اصلاحي ویناوې وړاندې کېږي. په وزارت کې د ښځینه کارکوونکو لپاره د لمونځ د اداء کولو او د تعلیمي نصاب د تدریس لپاره جلا ځای برابر شوی، چې دا چارې د یوې ښځینه کارکوونکې له لوري مخته وړل کېږي.
په ولایتونو کې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو اړوند کارکوونکو ته تعلیمي نصاب او د دعوت او ارشاد نور فعالیتونه د یو عالم له لوري پرمخ وړل کېږي. سرېکال، د دعوت او ارشاد رئیس او ورسره پلاوي د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته د دعوت او ارشاد چارو د ارزونې په موخه سفرونه ترسره کړي، هلته یې د ولایتونو د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو کارکوونکو ته لازمي لارښوونې ورکړې، همداراز په یادو ریاستونو کې د دعوت او ارشاد چارو له مسؤلینو سره یو اندازه نغدي مرسته هم ترسره شوې ده.
همداراز، د وزارت اړوند په تعرفي غونډو، ورکشاپونو، سیمینارونو او مجالسو کې د اسلامي ارزښتونو د ترویج او پوهاوي په موخه ګډونوالو ته اصلاحي ویناوې وړاندې شوي دي. د ځینو خالي بستونو لپاره د نوي کارکوونکو د ګمارنې په پروسه کې د هغوی د دیني معلوماتو د ارزونې په برخه کې هم د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي مهمه ونډه اخیستې ده. سربېره پر دې، د وزارت اړوند لایحو، مقررو او قوانینو د تخریج پر مهال د یاد ریاست بشپړه ونډه د یادونې وړ ده.
په پای کې ویلی شو چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست په دې وزارت کې د کارکوونکو د دیني پوهاوي، د نبوي صلی الله علیه وسلم د سنتو سره سم د کارکوونکو صورت او سیرت د برابرولو، د جماعت لمانځه د اهتمام ساتلو او کارکوونکو ته د تعلیمي نصاب په منظم ډول تدریس کولو کې بشپړې هڅې ترسره کړې دي او په نورو برخو کې هم کارکوونکو ته لازمي لارښوونې شوي دي.

# د خدماتو، ساتنې او پاملرنې ریاست



د خدماتو، ساتنې او پاملرنې ریاست د ۱۴۰۴ مالي کال په ترڅ کې د سپارل شویو مسؤلیتونو پر بنسټ، د اغېزمنو خدمتونو وړاندې کولو، د بیت‌المال د شتمنیو د ساتنې او د وزارت د ټولو برخو د ساتنې په برخه کې مهم او ارزښتناک فعالیتونه ترسره کړي دي. یاد ریاست د منظمو اداري اصولو په رڼا کې هڅه کړې ده تر څو د کاري اسانتیاوو او بنسټیزو اړتیاوو د ښه‌والي لپاره لازمې زمینې برابرې کړي.

د یاد ریاست له لوري د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو لپاره پنځلس (۱۵) اداري ودانۍ او اړوند سپینې نمرې برابرې شوې دي، چې د اداري چارو د اسانتیا او د خدمتونو د ښه وړاندې کولو په برخه کې یې مهم رول لوبولی دی.

همدارز، د وزارت د مشرتابه د حکم پر اساس او د درې کسیزې کمېټې پر مټ، د مرکزي ودانیو د ثبت او سجل چارې په منظم او اصولي ډول ترسره شوې دي.

د ټولنیز ملاتړ په برخه کې، د یوې خیریه مؤسسې په همکارۍ، په مرکز او ولایتونو کې د (۲۹) تنو یتیمانو لپاره استوګنیز کورونه جوړ شوي دي، چې دا اقدام د یتیمانو د ژوند د ښه والي او د سرپناه د برابرولو په برخه کې مهم ګام بلل کېږي.

د اوبو د ښه مدیریت او د سطحي اوبو د ضایع کېدو د مخنیوي په موخه، د باران او واورې د اوبو د زېرمه کولو لپاره د وزارت په انګړ کې جذبي څاه ګانې کېندل شوې دي، چې دا کار د چاپېریال ساتنې او د طبیعي سرچینو د اغېزمنې استفادې په برخه کې مثبت اغېز لري.

همدارنګه، د کاري چاپېریال د ښه‌والي او د تعمیراتو د ظاهري وضعیت د سمون په موخه، د شهیدانو ورثه وو او معلولینو د پالنې مرکز اداري ودانۍ رنګ شوې او ځینو برخو چې ترمیم ته یې اړتیا درلوده، هغه یې ترمیم کړې دي.

د وزارت د مرکزي ودانۍ د تشنابونو د نلدوانۍ سیستم په بشپړه توګه تکمیل شوی او همدارنګه د اجناسو د محاسبې د تعمیر کانکریټ ریزي د ودانۍ د استحکام او معیاري کېدو په موخه ترسره شوې ده.

یاد ریاست د وزارت ټولو مرکزي ریاستونو ته د انټرنټي خدمتونو د برابرولو، د برېښنايي تجهیزاتو او تخنیکي برخو د چمتو کولو او همدارنګه د وزارت اړوند بېلابېلو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اړتیا پر وخت منظم پرله پسې او د پام وړ خدمتونه ترسره کړي دي.

په ټوله کې، د خدماتو، ساتنې او پاملرنې ریاست د پورته یادو شویو فعالیتونو د تطبیق له لارې توانیدلی چې د عامه شتمنیو د ساتنې، د زیربناوو د ښه‌والي او د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د لازمو اسانتیاوو په برابرولو کې خپل اغېزناک رول ولوبوي او په راتلونکې کې به هم په بشپړ تعهد سره خپلو دندو ته دوام ورکړي.

# مرکز حمایوی ورثهٔ شهداء و معلولین













مرکز حمایوی ورثهٔ شهداء و معلولین در سال مالی ۱۴۰۴ با هدف توانمندسازی و خودکفایی اقتصادی ایتام، معلولین و فرزندان افراد دارای معلولیت، برنامه‌های مؤثر آموزشی و حمایتی را تطبیق نمود. در این سال برای (۲۹۰) تن از ایتام، معلولین و فرزندان افراد دارای معلولیت، آموزش‌های فنی و حرفوی در هفت رشته از جمله ترمیم کمپیوتر، موبایل، وسایل برقی، موترسایکل، جنراتور، سیستم سولر، کمره‌های امنیتی و خیاطی طی دو دوره برگزار گردید. همچنان برای (۳۰۰) تن از افراد مستحق، برنامه‌های آموزش کمپیوتر و سواد حیاتی در دو دوره آموزشی راه‌اندازی شد که در ارتقای مهارت‌های اساسی آنان مؤثر واقع گردید. برای ایتام و افراد دارای معلولیت که از ولایات می‌باشند، خدمات لیلیه معیاری فراهم شد تا زمینه مناسب آموزش برای آنان مهیا گردد. علاوه بر آن، برای (۱۳۰) تن ایتام، معلولین و فرزندان افراد دارای معلولیت از (۳۴) ولایت کشور، آموزش دروس دینی و علوم عصری در لیلیه این ریاست تطبیق گردید که نقش مهمی در رشد علمی و اخلاقی شاگردان داشت. در بخش اداری، امور دیپو و اسناد ضروری به‌گونه منظم و شفاف تکمیل شد و به‌منظور بهبود محیط آموزشی، صنوف درسی و بخش‌های اداری تعمیر این ریاست رنگمالی گردید. در پایان، این ریاست با توزیع وسایل کاری به فارغان دوره‌ها، نقش مؤثری در حمایت از خودکفایی اقتصادی خانواده‌های شهداء و معلولین ایفا نموده است.

## د معلولینو د بیاځواکمنتیا ریاست



د معلولینو د بیاځواکمنتیا ریاست د خپل مسؤلیت له مخې، د سږ کال په اوږدو کې معلولیت لرونکو وګړو، یتیمانو او کونډو ته د باکیفیته او معیاري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه پراخ او دوامدار فعالیتونه ترسره کړي دي. یاد ریاست په مصنوعي غړو جوړونه، ارتوپیدي، فزیوتراپي، ذهني او رواني روغتیايي برخو کې د مسلکي ټیمونو له لارې اغېزمن خدمتونه وړاندې کړي دي.

د روان کال په جریان کې، په مجموعي ډول (۵۴۰۷) تنو معلولیت لرونکو وګړو، یتیمانو او کونډو ته په بېلابېلو برخو کې معیاري او اغېزمن خدمات وړاندې شوي دي، چې دا د یاد ریاست د دوامدارو هڅو او ژمنتیا څرګندونه کوي.

د مصنوعي غړو جوړونې په برخه کې، سږکال (۶۰) تنو معلولینو ته نوي مصنوعي پښې جوړې شوې دي، همدارنګه (۱۸) تنو ته حمایوي قالبونه برابر شوي او د (۷۴) تنو معلولینو مصنوعي پښې ترمیم شوې دي. په دې توګه، په مجموعي ډول(۱۵۲) تنه معلولین له دې خدمتونو څخه برخمن شوي دي.

د فزیوتراپي په برخه کې، یاد ریاست (۷۷۷) تنو معلولینو ته د (۳۹۷۶) بېلابېلو فزیوتراپي جلسو له لارې درملیز خدمتونه وړاندې کړي دي، چې موخه یې د فزیکي وړتیاوو ښه والی او د ورځني ژوند اسانتیا وه. سربېره پر دې، (۱۵۸) تنو معلولینو ته د حرکي کمکي وسایلو وېش ترسره شوی دی.

همداراز، د ارتوپیدي خدمتونو په برخه کې (۳۷۸۱) تنو یتیمانو، کونډو او معلولینو ته لازم او تخصصي خدمات وړاندې شوي دي، څو د هغوی فزیکي اړتیاوې تر ډېره بریده پوره شي.

د ذهني او رواني روغتیا په برخه کې هم، د یاد ریاست له لوري (۵۵۰) تنو د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته مشورتي، رواني او حمایوي خدمتونه وړاندې شوي دي، چې دا چاره د رواني هوساینې په برخه کې مهم ارزښت لري.

د معلولینو د بیاځواکمنتیا ریاست ژمن دی، چې په راتلونکو کلونو کې هم د خپلو امکاناتو د پراختیا، د خدمتونو د کیفیت د لوړولو او د لا زیاتو مستحقو کسانو د ملاتړ په موخه خپلې هڅې لا پسې پیاوړې کړي، څو معلولیت لرونکي وګړي، یتیمان او کونډې وکولای شي له اغېزمنو صحي خدمتونو څخه برخمن شي.

## آمریت تدارکات

آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در سال مالی ۱۴۰۴، در پرتو احکام قانون عقود، طرزالعمل‌ها و رهنمودهای نافذه، فعالیت‌های خویش را به منظور تأمین شفافیت مؤثر و اقتصادی نیازمندی‌های وزارت در بخش اجناس، خدمات و امور ساختمانی به‌گونه منظم و معیاری انجام داده است. این گزارش به‌منظور انعکاس فعالیت‌ها، دستاوردها و چگونگی تطبیق پروسه‌های تدارکاتی در جریان سال مالی متذکره تهیه گردیده است.

در آغاز سال مالی ۱۴۰۴، آمریت تدارکات با هماهنگی ریاست‌ها و واحدهای ذیربط وزارت، نیازمندی‌های اجناس، خدمات و امور ساختمانی را جمع‌آوری نموده و پس از تحلیل و بررسی همه‌جانبه، مشخصات تخنیکی و معیارهای کمی و کیفی آن‌ها را مطابق احکام قانون و طرزالعمل تدارکات ترتیب نمود. در این مرحله، اطمینان حاصل گردید که اسناد تثبیت نیازمندی‌ها به‌گونه کامل با معیارهای قانونی، اصل شفافیت، مؤثریت و صرفه جویی مطابقت داشته باشد.


بر اساس بودجه منظور شده وزارت، پلان تدارکاتی سال مالی ۱۴۰۴ طرح و ترتیب گردیده و پس از طی مراحل قانونی، نهایی شد. همچنان پلان متذکره در اخیر هر ربع سال مالی، نظر به نیازمندی‌ها و تغییرات بودجوی، مورد تعدیل قرار گرفته و پلان تدارکاتی منظور شده به‌موقع به ادارات و مراجع ذیربط ارسال گردید. در جریان سال مالی ۱۴۰۴، به تعداد ۱۴ پروژه در بخش‌های اجناس، خدمات و امور ساختمانی، اسناد معیاری دواطلبی (شرطنامه‌ها) مطابق قانون و طرزالعمل تدارکات طرح و ترتیب گردید. آمریت تدارکات مدیریت و نظارت همه‌جانبه بر طی مراحل درست و اصولی این پروسه ها را انجام داده که اعلانات تدارکاتی از طریق سیستم داوطلبی الکترونیکی باز، افغان اعلانات و وبسایت رسمی وزارت به نشر سپرده شد.

پس از طی مراحل ارزیابی آفرها، چک‌لیست‌های مربوطه ترتیب و قبولی آفر صادر گردید. همچنان اسناد معیاری قراردادها، موافقت نامه‌ها و سایر اسناد مرتبط به‌گونه منظم تهیه شده و بر تطبیق درست آن‌ها در مرحله تطبیق قرارداد نظارت مؤثر صورت گرفت تا قراردادها مطابق شرایط و مشخصات مندرج، به‌گونه معیاری تکمیل و نهایی گردد.

آمریت تدارکات همچنان مدیریت و نظارت به‌موقع بر پروسه ثبت قراردادها در سیستم داوطلبی الکترونیکی باز را انجام داده و بر تطبیق قراردادها مطابق شرایط، مشخصات تخنیکی و زمان‌بندی مندرج در قراردادها نظارت همه‌جانبه به عمل آورد. در نتیجه، اطمینان حاصل گردید که قراردادها به‌گونه درست و در زمان معین آن تکمیل گردد.


پرداخت‌های مالی قراردادها به شرکت‌های قراردادی مطابق شرایط قرارداد و در زمان تعیین‌شده مدیریت گردیده و از بروز هرگونه تأخیر جلوگیری به عمل آمد. همچنان پروسه استرداد تضمینات اجرای قراردادها مطابق احکام قانون و













طرزالعمل تدارکات، به‌گونه شفاف و اصولی انجام شد.

در سال مالی ۱۴۰۴، به تعداد ۲۳ درخواست نرخ‌گیری از جانب آمریت تدارکات طرح و طی مراحل گردید. در این راستا، فورم‌های م۲ و م۳ و اوامر خریداری مطابق قانون ترتیب شده و تخصیص آن‌ها به‌گونه شفاف صورت گرفت. همچنان بر چگونگی اکمال و اجرای حواله‌های خریداری‌های پرچون، مطابق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات، نظارت لازم انجام شد.

تمام خریداری‌های مورد ضرورت وزارت در سال مالی ۱۴۰۴ مطابق قانون و طرزالعمل تدارکات انجام یافته که در نتیجه آن، در تهیه و تدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی، صرفه‌جویی قابل ملاحظه در مصرف بودجه وزارت به‌وجود آمده است.

همچنان تمام اسناد پروژه‌های اجناس، خدمات، امور ساختمانی و مکاتب‌های وارده به آمریت تدارکات به‌گونه منظم فهرست‌بندی، ترتیب و تنظیم گردیده و با توضیحات منطقی، ساده و قابل فهم بایگانی شده است تا در آینده به‌عنوان اسناد مرجع مورد استفاده قرار گیرد.

در مجموع، آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در سال مالی ۱۴۰۴ توانسته است با رعایت کامل احکام قانون و طرزالعمل تدارکات، پروسه‌های تدارکاتی را به‌گونه شفاف، مؤثر و منظم مدیریت نموده و نقش مهمی در تأمین نیازمندی‌های وزارت و استفاده مؤثر از بودجه ایفا نماید.





# د مرکې برخه

# له یو تن معلول سره مرکه



پوښتنه: مهرباني وکړئ خپل ځان لوستونکو ته معرفي کړئ او د خپل ژوند لنډه کیسه شریکه کړئ؟
ځواب: تر ټولو وړاندې د شهید مجلې درنو لوستونکو ته خپل سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم. زه نقیب الله اختري یم، د دواړو پښو معلول یم او دا مهال د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر ریاست د معلوماتو په څانګه کې د کارکوونکي په توګه دنده ترسره کوم. شاوخوا دوه کاله کېږي چې په همدې وزارت کې په خدمت بوخت یم. هڅه کوم د خپلو ستونزو سره سره خپله دنده په ښه توګه ترسره کړم.
پوښتنه: ستاسو د زده کړو او مسلکي پرمختګ تجربه څنګه وه؟ له کومو خنډونو او بریاوو سره مخ شوي یاست؟
ځواب: ما خپلې لومړنۍ زده کړې په کابل کې پیل او بشپړې کړې. وروسته مې لوړې زده کړې د کابل پوهنتون د ژورنالېزم په څانګه کې ترسره کړې او مسلکي زده کړو مې په همدې برخه کې دوام ورکړ. د ژوند په بهیر کې له ګڼو بریاوو ترڅنګ له ډېرو خنډونو او ستونزو سره هم مخ شوی یم، خو له نېکه مرغه مې د زغم او هڅې له لارې له ټولو ننګونو سره مبارزه وکړه، هېڅکله ناهیلی نه شوم او خپلې موخې ته ورسېدم.
د زده کړو پر مهال د استادانو او مسؤلینو له خوا ډېر ستایل شوی یم، چې دا زما لپاره د لا هڅونې سبب ګرځېدلی. سره له دې چې د تګ او راتګ پر مهال له ډېرو ستونزو سره مخامخ وم، بیا هم وتوانېدم چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړم او په بریالیتوب سره یې بشپړې کړم.
پوښتنه: ستاسو راتلونکې هیلې او پلانونه څه دي، او څه شی تاسو هڅوي چې مخته لاړ شئ؟
ځواب: د راتلونکي لپاره ډېرې هیلې او پلانونه لرم، هم د زده کړو په برخه کې او هم د ژوند په نورو اړخونو کې. هڅه کوم چې په دې وزارت کې لا زیاتې تجربې ترلاسه کړم او د دیني او عصري علومو په برخو کې خپلې پوهې ته وده ورکړم، څو وکولای شم په مسلکي او ټولنیز ډګر کې لا ښه خدمت ترسره کړم.
زما د بریاوو یو مهم لامل دا وو، چې ما معلولیت هېڅکله خنډ ونه باله. ما ومنله چې معلولیت یوازې یو جسمي محدودیت دی، نه ناتواني. همدې باور راته ځواک راکړ چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړم او د کابل پوهنتون تحصیلي دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوم. دا باور او هیله مې تل هڅوي چې مخته لاړ شم او خپلو موخو ته ورسېږم.
پوښتنه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له

خوا کوم ډول خدمتونه یا مرستې مو ترلاسه کړې چې ستاسو په ژوند کې اسانتیاوې راوستلې وي؟
ځواب: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له محترمې رهبرۍ څخه ډېره مننه کوم، چې د استخدام پر مهال یې راته دا زمینه برابره کړه چې د خپلو وړتیاوو او د وزارت د ملاتړ په پایله کې وتوانېدم چې د ازادې سیالۍ له لارې ازموینه ورکړم او په همدې وزارت کې د دندې ترلاسه کولو ویاړ ومومم.
سربېره پر دې، وزارت د مرستو په برخه کې راسره د برېښنايي ویلچر مرسته وکړه، چې زما په ورځني ژوند کې یې د پام وړ اسانتیاوې راوستې او د تګ راتګ ستونزې یې تر ډېره حده را کمې کړې چې دا ډول ملاتړ زما لپاره د لا هڅونې او خدمت کولو زمینه برابره کړې ده.
پوښتنه: وزارت کې د کارکوونکو او مسؤلینو چلند ستاسو سره څنګه دی؟ آیا تاسو ترې راضي یاست؟
ځواب: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسؤلینو او کارکوونکو له چلند څخه پوره رضایت لرم. د دوی چلند نه یوازې له ما سره، بلکې له ټولو معلولینو سره ښه دی. تل هڅه کوي چې د درک، ملاتړ او مثبت تعامل فضا رامنځته کړي.
دا ډول مناسب چلند او همکاري د دې لامل شوی چې زه خپل کاري مسؤلیتونه په ښه ډول ترسره کړم او له خپلې دندې سره د لا زیاتې ژمنتیا احساس وکړم.
پوښتنه: ستاسو په اند ستاسو مهم قوتونه او وړتیاوې کومې دي چې تاسو یې بریالي ساتلي یاست؟
ځواب: زما په اند، کله چې انسان پر ځان باور ولري او خپلې وړتیاوې په سمه توګه وپېژني او وده ورکړي، نو حتمي بریالیتوب ته رسېږي. ما هم تل پر خپل ځان او خپلو وړتیاوو بشپړ باور ساتلی، او همدې باور زه دې مرحلې ته رسولی یم.
د هوډ، زغم، دوامداره هڅې او مثبت فکر درلودل زما له مهمو قوتونو څخه دي. هڅه کوم خپلې وړتیاوې لا پسې پیاوړې کړم او د ژوند او کار په هر ډګر کې ترې ګټه واخلم، څو وکولای شم خپلو موخو ته ورسېږم او د خلکو لپاره ښه خدمت ترسره کړم.
پوښتنه: کومې ستونزې یا محدودیتونه شته چې لا هم ستاسو پر ورځني ژوند اغېز کوي؟
ځواب: په افغانستان کې د څو لسیزو جګړو او ناخوالو له امله ګڼې ستونزې پاتې شوې دي، چې د ټولنې پر بېلابېلو قشرونو په ځانګړي ډول پر معلولینو یې اغېز کړی دی. د معلولینو په ورځني ژوند کې لا هم ځینې محدودیتونه او ننګونې شته، لکه د تګ او راتګ اسانتیاوې، ټولنیز امکانات او د ژوند نورې اړتیاوې چې کله ناکله ستونزې رامنځته کوي.
سره له دې، اړینه ده چې معلولین خپل همت له لاسه ور نه کړي او د ستونزو پر وړاندې مبارزې ته دوام ورکړي. د زغم، باور او هڅې له لارې کولای شو له شته ننګونو سره مقابله وکړو او د ښه راتلونکي لپاره ګامونه واخلو.
پوښتنه: د ټولنې چلند د معلولینو په اړه څنګه ارزوئ؟ ایا بدلون پکې راغلی؟
ځواب: زما په نظر، د معلولینو پر وړاندې د ټولنې چلند د پخوا په پرتله تر یوه حده ښه شوی دی، خو لا هم اړتیا شته چې په دې برخه کې د عامه پوهاوي لپاره لا زیات کار وشي. د معلولیت لرونکو

وکړو د حقونو او  ورتیاوو په اړه د خلکو پوهاوی کولای شي مثبت بدلونونه نور هم پیاوړي کړي.
همدارنګه، اړینه ده چې په ادارو کې د معلولیت لرونکو وګړو چارو ته لومړیتوب ورکړل شي او د هغوی ټولنیزو حقونو ته پاملرنه وشي.
پوښتنه: تاسو نورو معلولینو ته څه پیغام لرئ چې د ژوند پر وړاندې مثبت پاتې شي؟
ځواب: زما پیغام نورو معلولینو ته دا دی چې هېڅکله ناهیلي نه شي او د ژوند د ستونزو پر وړاندې خپل هوډ له لاسه ور نه کړي. موږ د زغم، هڅې او باور له لارې کولای شو له هرې ننګونې سره مبارزه وکړو او خپلې موخې ته ورسېږو.
معلولین باید هڅه وکړي چې نوي مهارتونه زده کړي، خپلې وړتیاوې وپېژني او د پرمختګ لپاره ترې ګټه واخلي. همدارنګه، باید د ژوند ستونزو او ننګونو ته هېڅکله تسلیم نه شي، بلکې په مثبت فکر او قوي ارادې سره مخته ولاړ شي او د بریا لپاره هڅه وکړي.
پوښتنه: په پای کې، که کوم مهم ټکی وي چې غواړئ د مجلې له لارې یې شریک کړئ، مهرباني وکړئ بیان یې کړئ؟
ځواب: په پای کې بیا هم ټینګار کوم چې معلولین باید تل په ځان باور ولري، قوي اراده او لوړ عزم ولري، موږ د دې شاهدان یو چې له نېکه مرغه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تر دې دمه ګڼ فرصتونه رامنځته کړي دي، نو اړینه ده چې معلولین له رامنځته شویو فرصتونو څخه په بشپړه توګه استفاده وکړي او خپلو وړتیاوو ته وده ورکړي.



بسم الله الرحمن الرحيم

حديث:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ قَالَ:

خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ (سنن ابن ماجه)

ترجمه:

رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمايي: په مسلمانانو کې تر ټولو غوره کور هغه دی چې له یتیم سره په کې ښه چلند کيږي او د مسلمانانو په کور کې تر ټولو بد کور هغه دی چې له یتیم سره په کې ناوړه چلند کيږي.

بسم الله الرحمن الرحیم

په خپښۍ او ودونو کې د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله
د عـالیقدر امـیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له فـرمان څخه

---

ښځه، د اسلام له نظره د نکاح کولو په موضوع کې د نارینه په څېر خپلواکه ده، په هېڅ صورت کې د چا مال نه ګرځي او د خپل خاوند له مړینې او طلاق وروسته د دې له خوښې او مشورې پرته یې خسرګنۍ او یا هم پلار ګنۍ په زوره بل چاته په نکاح نه شي ورکولای، په خپله خوښه چېرته او چا سره چې غواړي، له شرعي اصولو سره سم نکاح کولای شي.

---

مهر، د ښځې حق دی بل هېڅوک حق نه لري چې د هغې له خوښې پرته یې مصرف کړي، تر دې چې فقهاء، رحمهم الله تعالی وایي: کوم پلرونه او نیکونه چې د لوڼو یا لمسیو مهرونه خوري، هغوی غاصب او د مهر ضامن دي؛ نو چې پلار او نیکه د مهر په خوړلو غاصب ګڼل کېږي، ورور، تره او نور خپلوانو ته خو بېخي هیڅ لاره نشته چې د خویندو، وربرونو او د نورو خپلوانو نجونو مهرونه وخوري یا یې د هغوي پرته مصرف کړي.

# SHAHEED
## Magazine

